تیمور شاه دراني

سرمحقق علي محمد منګل

1382 هـ ش

www.sikaraam.com

Download from: ketabton.com

www.sikaraam.com

Download from: ketabton.com

د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم : تيمور شاه درانی

څېړنه : سرمحقق علي محمد منګل

کمپوز : د ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز

کمپوزر : الهام الدين " ګوهر انديش"

د کمپوز ځای : د ميرزاخان او احمدزی کمپوزنګ

سنټر ګل حاجی پلازه اطاق نمبر208

يونيورسټي روډ پيښور تليفون 853549

د چاپ کال : 1382 هـ ش

تصحيح او چاپ چارې : د ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز

فکس تليفون 5704506 –091

www.sikaraam.com

Download from: ketabton.com

د لوی خدای په نامه

سر یزه

د افغانستان د تاریخ یوه په زړه پورې غوره او سپېڅلې برخه پر احمد شاه بابا او د هغه پر اولادې پورې اړه لري، د افغانستان د تاریخ دغه دوره د خپل ارزښت له مخې ډېره ځانګړې بڼه او خاص ځانګونه لري

په دغه تاریخي دوره کې د افغانستان او د هغه د ګاونډیو هیوادونو تر منځ اړیکه او ځینې نور خاص موضوعات د دغې دورې ارزښتناکه خزانه ده، چې د افغانستان د تاریخ په پاڼو کې ځای شوې ده او د پوهانو د توجه وړده د احمد شاه بابا او د هغه د اولادې د پادشاهۍ او ددوی د واکمنیو په باره کې بهرنیو او داخلي پوهانو ډېرې زیاتې غوره په زړه پورې او ارزښتناکې څېړنې کړې دي ، چې هره تاریخي څیړنه په خپله برخه کې ډېره باوري او ددوی د ژوند او پاچاهۍ د حال په برخه کې بې سارې بیلګې دي او زمونږ د هیواد د ملي تاریخ په څېړنه کې یو ځانګړی باب او څپرکی دی، چې د تاریخ پوهانو د څېړنو له امله په ښه شان سره جوت شوي او د خاص تاریخي ارزښت درلودونکی دی

زه د خپلې دغې تاریخي څیړنې په باب ددغه ټکي یا دونه کوم چې:

دغه تاریخي څېړنه یوازې او یوازې د تیمور شاه او د هغه د پادشاهۍ په باره کې ده پوهیږم ، چې د تاریخ پوهانو له پاره به په سین (سیند) کې د څاڅکي په شان وي ، دا ځکه ، چې زه د تاریخ سره دومره آشنایي او بلدیت نه لرم ، خو کوم هدف ، چې په د غې کوچنۍ او متکۍ تاریخي څېړنې په برخه کې تر نظر لاندې نیول شوی هغه د تیمور شاه د پاچاهۍ او دده د پاچاهۍ په اداري ، نظامې او ادبي تشکیل او د قام د مشرانو سره دده کړنه راجوتوي ، چې تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې دغه شان یوه ځانګړې څیړنه ، چې تحقیقي بڼه ولري په دې باب تر سترګو شوې نه ده په دغه تحقیقي څېړنه کې له ډېرو معتبرو او لوړو ماخذونو لکه (سلطاني تاریخ ، سراج التواریخ ، درانی تیمورشاه ، عروج بارکزایی ها ، رجال وررویدادهای تاریخي احمدشاه ، بالاحصار وپیش آمدهای تاریخي، د پښتنو تاریخ ، پښتانه د تاریخ په رڼا کې،د کابل د سلطنت بیان او افغانستان) څخه استفاده شوې ده ، چې د دغو ماخذونو بشپړه پېژندنه د مجموعې په آخر کې پوریخه څرګنده شوې ده دا بیخي جوته ده ، چې هر افغان په خپل کلي او د خپل ماحول په شرایطو او هم د خپل لوی چاپیریال په هسکو ټیټو کې رالوئیږي؛ نو دیته اړ دی ، چې د خپل ژوند، کلي او د هیواد د تیر، او سني او راتلونکي تاریخ په باره کې خامخا یو څه اوري، زده کوی یې او خاصه آشنایي ورسره پیدا کوي ، دا دژوند غوښتنه ده او د هر چا سره مله او ملګرې ده

ددې خبرې غوره او پوریخ مفهوم او مانا داده ، چې هر څوك له خپل ژوند او تاریخ سره مینه او علاقه لري دا هم بیخي جوته او منلې خبره ده ، چې هر چا ته خپل وطن ، کور ، کلی او خپل تېر او اوسنی تاریخ خوږ او ډېر په زړه

Download from: ketabton.com

پورې برېښې او خاصه مینه ورسره لري ، چې د خپل ټبر او اوسني تاریخ سره ځه نا ځه آشنا شي او د خپل وطن او د پلرونو او نیکونو له ژوند او سرښندنې نه خبر شي، چې زموږ د خاورې او پلرو تاریخ څه شان و ؟ او څه ټیټې او جګې د پېړیو په اوږیدو را اوړیدو سره په کې راغلي دي

د سریزې په پای کې په ډاګه سره وایم : کوم څه ، چې په دغه مجموعه کې د دراني تیمور شاه د ژوند او د هغه د پاچاهۍ د وخت په برخه کې را غونډ کړل شوي دي ، د غور چاڼ بڼه لري او دده د زمانې د راځرګندیدو کوچنۍ هنداره ګڼل کېدای شي ، چې په پښتو ژبه د یوې څېړنې او تحقیق په توګه له دغې کوچنۍ تاریخي موضوع څخه د علم او تاریخ پوهان ، چې ما د وس او توان په اندازه کښلي څه تته غوندې رڼا ووینې ، باور لرم، چې د تاریخ د ځانګې نور پوهان به د تیمورشاه د دورې هر اړخیز انځور په راتلونکې کې وکاږي او دا تاریخي لړۍ به په پښتو ژبه بشپړه کېږي

زه د خپلې دغې تاریخي څېړنې په چاپ او خپراوي کې د پښتو ژبې د زړور مینه وال ، فرهنګي او د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکزد موئسیس ښاغلي امام الدین ساپي څخه ډېره مننه کوم ، چې د کمپوز د لګښت ترځنګ یې دا کتاب په وړیا توګه چاپ او خپور کړ

لوی خدای (ج) دې ستر اجرونه ورپه برخه کړي

په درنښت

سر محقق علي محمد منګل

علومو اکاډمی – کابل

Download from: ketabton.com

لومړنی څپرکی

د تیمور شاه په وخت کې د افغانستان حال

اعلیحضرت احمد شاه بابا(رح) د خپل سلطنت په (26) کلنه دوره کې نه یوازې ګران افغانستان خپلو طبیعي سرحدونو ته ورساوه ، بلکې د افغانستان کورنۍ او داخلي وضع یې هم تر ډېره سمه کړه ، قومي شخړې او تربګنۍ یې پای ته ورسولې او خپلو فتوحاتو ته متوجه شو ده د مرکزي حکومت قوت په ټول هیواد او خاوره کې ټینګ کړ او هیواد یې د کارونو او چارو د اسانتیا د پاره په ولایتونو او حکومتونو وویشه . هر ولایت به د یووالي له خوا اداره کیده منظم عسکري تشکیلات یی جوړ او برابر کړل ټولو خلکو په تیره بزګرانو د مالیې ورکولو ته کلکه غاړه کېښودله او دولتي خرڅونې (خزانې) یې ترې ډکې کړې لنډه دا، چې د حکومت داخلي او خارجي وضع یې په ډېرې آرامۍ او هوسایۍ سره دده پر ځای خپلو راتلونکو کیناستونکو او اولادې ته برابره کړه ، خو دده د پادشاهۍ زمانه په جنګونو او عسکري سوقیاتو کې تېره شوه مګر راتلونکوي وخت ته یې د خپلې اولادې د پاره آرامه لار پرانستلې وه

د تیمور شاه په زمانه کې دغه ارته لویه سیمه ، چې د افغانانو ګډ کور دی په هماغه بڼه پاتې شوه او کوم ارتوالی یې ونه کړ د دراني تیمور شاه تدبیر او اراده دا وه ، چې دغه نیول شوي ملکونه او افغانستان طبیعی سرحدونه تر خپلې وسې پورې وساتي د تیمور شاه د ارادې علتونه چې ولې یې د خپل پلار (لوی احمد شاه بابا) په شان څه پرمختګ ونه کړ په دې څېړنه کې به ، چې دده د زمانې او وخت د پاره په نظر کې نیول شوې ده ، جوت کړای شي

د تیمور شاه لنډه پیژندګلوي:

الف : د پادشاهۍ د ټاکل کیدونه دمخه (د وړوکوالي- ځوانۍ) وخت :

شهزاده تیمور شاه د اعلیحضرت احمد شاه بابا دویم زوی او په (1100هـ) کال کې پیدا شوی دی (1) دده د پیدا کیدو او زېږیدو ځای د ایران ما زنداران په اتفاق ښودل شوی دی

څه وخت چې احمد خان (لوی احمد شاه بابا(رح)) د نادر شاه افشار له خوا څخه د مازنداران په ماموریت وګومارل شو د خپلې کډې او خپلخانې نه پرته د ابدالیو د قام څلور زره تکړه سواره هم له ده سره مله او ملګري وو په دې ځای کې د احمد خان ماموریت اوږد شو اوپه (1100 هـ ق - 1742) کال کې یې همدلته شهزاده تیمور پیدا شو(1) احمد خان چې د مازندران د ماموریت له پاره د نادرشاه افشار له خوا ټاکل شوی و؛ نو دده دغه ماموریت په دې ځای کې تر 1160 کال پورې دوام وموند ددې پورته یادونې او نظر په خلاف ظفر کاکا خیل په خپل کتاب (پښتانه

Download from: ketabton.com

د تاریخ په رڼا) کې لیکي ، چې شهزاده تیمور شاه په (1746ع) کال کې په مشهد کې پیدا شوی دی په دې ترتیب دده د زېږېدو په باب د مؤرخینو تر منځ د نظر اختلاف لیدل کیږي

د احمد خان ددغه ماموریت په وخت کې کله، چې د مشهد په فتح آّباد کې د ایران د سردارانو په سلا او مشوره نادر شاه افشار د جمادي آّلاخر د میاشتې په یوولسمه د یکشنبې د شپې په نیمه نیمايي (پخه شپه) کې ووژل شو احمد خان تر لنډې جګړې وروسته چې د ایران له مشرانو سره یې وکړه د مشهد له فتح آباد نه کندهار ته د خپلې کډې ، ماشومانو او ملګرو سره را روان شو احمد خان په دې پیښه کې د نادر شاه افشار د حرم ساتنه د ښځتني پت له مخې په ډېره کلکه مېړانه سره وکړه د نادر شاه میرمنې د احمد خان ددې لوی خدمت په بدل کې هغه ته د کوه نور قیمتي الماس ، چې د محمد شاه ګورګاني له خوا ددې میره (نادر شاه افشار) ته ورکړ شوی و، وروبخښلو(1) شهزاده تیمور په اووه کلنۍ کې د خپل مېړني پلار او ګرانې مور سره کندهار ته راغی کله چې، د تیمور پلار (احمدخان) او نور افغاني مشران کندهار ته راوګرزېدل سمد لاسه یې د مشر په ټاکلو لاس پورې کړ، نهه (9) جرګې د مشر او مشرۍ د ټاکلو د پاره وشوې ، له نهمې جرګې وروسته د ټولو مشرانو په خوښه او په تېره د حاجي جمال خان په پوره پاملرنه احمد خان د افغانستان په پادشاهۍ وټاکل شو او د بخت ستورى یې وځلید، صابر شاه ملنګ د غنمو وږی د احمد خان په سر کې و ټومبه ، د تیرې یو تخت یې جوړ کړ احمد شاه یې پر هغه کیناوه او ورته ویې ویل : دا تخت ستا سلطنت دی او ته پادشاه یې(2) احمد شاه بابا د تیمور د عمر په اووه کلنۍ کې د ګران افغانسان د سلطنت واګې په لاس کې واخیست شهزاده تیمور په پنځلس کلنۍ کې د خپل پلار (لوی احمد شاه بابا) سره د هند د نیولو او یرغلونو په وخت کې ملګرى و، او احمد شاه بابا په 1170ق کال کې د خپلو فتوحاتو په لړ کې د جمادي الاول د میاشتې په اوومه نیټه ډهلي ته ورسید، دلته یې دیوې میاشتې له تېرېدو وروسته ګوهر نسا بیګم د عزیزالدین مغلي لور خپل ځوان زوی شهزاده تیمور ته نکاح کړه دا د شهزاده تیمور دوهم واده و ، چې تر پنځلس کلنۍ پورې یې په نصیب شو، احمدشاه د خپلې نږور دواده د مراسمو د تېرېدو نه وروسته ډهلی عزیزالدین محمد ته پرېښود) 1 (

څه وخت چې احمدشاه بابا له هند نه بېرته افغانستان ته د راستنېدو خیال وکړ او د راتګ په وخت کې کله ، چې لاهور ته راورسېد؛ نو خپل ځوان زوی شهزاده تیمور یې چې ډېر حلیم، نرم او د ښه سلوك څښتن و او د خپل پلار اعتماد یې حاصل کړی و؛ نو د لاهور، ملتان ، کشمیر، تتې ، پنجاب او نورو ډېرو سیمو د والی په حیث یې مقرر کړ، سردار جان خان ایوب زی پوپلزی یې د هغه د مرستیال په توګه وټاکه ، چې له زوی سره یې په کارونو کې مرسته وکړي د خورشید جهان د کتاب لیکوال د تیمور شاه د ښوکړو ورو او نیکو خویونو په برخه کې ډېره ستاینه کړې ده او زیاته وي چې : " ده د خپل ماموریت په وخت کې له خلکو سره ډېره نرمه وضعه او ښه چال چلند درلود" شهزاده تیمور شاه هند ته د دوهم ځل تګ نه وروسته (د خپل پلار سره د پاني پت د جګړې د تمامیدونه وروسته) د لوی شاهنشاه (احمد شاه) سره کندهار ته راستون شو او د رسېدو سره سم د هرات د والی په حیث وټاکل شو(1) دی

Download from: ketabton.com

تر هغه وخته پورې د هرات والي و، څو، چې د پلار د مړينې نه وروسته د افغانستان د پادشاهۍ پر تخت د خپل پلار په مخکنۍ اشارې سره کیناست

ب : پر تخت کیناستل:

اعلیحضرت احمدشاه بابا د خپلې مړينې نه د مخه د هغه لياقت او ځيرکۍ له مخې ، چې په شهزاده تيمور کې يې ليدله؛ نو د نورو زامنو څخه يې هغه د سلطنت د چارو د اجرا د پاره وړګاڼه ، له دې کبله يې د هغه د وليعهد کېدو اشاره په خپل ژوند کې کړې وه کله ، چې لوی احمد شاه بابا مړ شو شهزاده تيمور په هرات کې و(2) وزير شاه ولي خان د وخت نه استفاده وکړه او خپل زوم شهزاده سليمان يې په کندهار کې پر تخت کيناوه د وخت ځينو غټو مشرانو ، چې د احمد شاه بابا وصيت يې د شهزاده تيمور د پادشاه کېدو د پاره د هغه له خولې اورېدلي و؛ نو د وزير شاه ولی خان په دې کار خواشيني شول او د شهزاده سليمان پادشاه کېدو ته يې غاړه کښېنښودله دوی

د کندهار نه ووتل او د هرات لور ته د شهزاده تيمور ليدلو ته ورغلل ، تيمور، چې د پلار له مرګ نه خبر شو ډېر غمجن و د وزير شاه ولي خان دې کار او شوم پلان ، چې د خپل زوم په برخه کې يې سرته رسولی و ، تيمور شاه را جګ کړ، د هرات خلك ، چې زيات يې هزاره او ايماق وو ، ځانته راوبلل هغوی ته يې وويل : زما پلار لوی احمدشاه بابا زه په خپل ژوند کې د پادشاهۍ د پاره ټاکلی وم اوس ، چې هغه مړ دی ، وزيرشاه ولي خان زما ورور شهزاده سليمان ، چې دده زوم کيږي په تخت کينولی دی ، زما د پلار خزانې يې ټولې په خپل واك کې نيولې دي ، آيا له دې غاصب نه زه د تخت او سلطنت د نيولو حق لرم که نه ؟

د شهزاده تيمور له دې خبرو وروسته د هرات خلکو د خپل والي د ښه چلند له مخې، چې تر اوسه يې د ولايت چارې په غاړه درلودلې په يوه خوله هغه ته وويل : ته حق لرې ، چې د سلطنت چارې په خپل لاس کې ونيسې او پر تخت کښېنې، موږ ټول ستا مله او ملګري يوْ د خلکو له منځ نه شيخ يحيی، چې لوی عالم و را پور ته شو او د هغه وخت سلطنتي توره يې د شهزاده په څنګ کې ځوړنده کړه او ټول افغاني قامونه د هغه په مرسته او ملاتړ ودرېدل له لږې مودې وروسته شهزاده تيمور په ډېره بيړه د خپل لښکر سره د کندهار لور ته حرکت وکړ او د بکوا د دښتې د لارې د کندهار احمدشاهي ښار ته له خپلو لښکرو سره ننوت) 1 (

وزير شاه ولي خان ، چې د خلکو زياته مينه د شهزاده تيمور د پادشاه کېدو د پاره وليدله ؛ نو د هغه مخې ته د هر کلي د پاره ورغی، مګر څنګه ، چې شهزاده تيمور د قام د لويانو تر زيات تاثير لاندې راغلی و، وزير شاه ولي خان يې مړ کړ او د هغه په ټولو خدمتونو يې سترګې پټې کړې (د قام د مشرانو تر منځ د سليمان د پادشاه کېدو په اثر زيات اختلاف پيدا شوی و ، چې د موضوع په ارتباط به جوت کړای شي) دی ددې لوی سړي د وژلو نه وروسته کندهار ته په ډاډه زړه ور دننه شو ، شهزاده سليمان ، چې پوه او هوښيارو او په دې پوهېده ، چې تيمور له ما څخه

Download from: ketabton.com

هوښيار دی ، لياقت لري او له بلې خوا يې هيله درلودله ، چې د وروڼو د وژلو دوره پيل کړي؛ نو د سلطنت او تخت د چارو نه يې لاس په خپله واخيست او هغه و ، چې تيمور شاه د افغانستان پادشاه شو) 2 (

تيمور شاه د خپل ورور شهزاده سليمان په دې نيك او شريف حركت او كار ډېر خوشاله شو ، تر څو ، چې سليمان ژوندی و تيمور شاه د هغه عزت او احترام كاوه، په دې ډول سره تيمور شاه د افغانستان په تاريخ کې د خپل پلار نه وروسته په (1773ع) كال کې د افغانستان د سلطنت پر تخت کيناست) 1 (

د شهزاده سليمان د پادشاه کېدو ، د وخت او مودې په برخه کې ، چې څومره وه ، د احمد شاه بابا د مړينې او له هرات نه کندهار ته د شهزاده تيمور تر راتلو پورې صحيح او سم معلومات نشته ، چې د ده د پادشاهۍ وخت ترې جوت شي ، خو (د شهزاده سليمان استاذ ملا پيرمحمد کاکړ، چې د پښتو ژبې يو گرامر يې د معرفت الافغاني په نوم د خپل شاگرد شهزاده سليمان په نوم اهدا کړی دي) د ملا پير محمد کاکړ د دغې اهدا د نظمونو له بيتونو څخه جوتيږي ، چې د سليمان د سلطنت او پادشاهۍ په وخت کې يې ليکلی دي (2)، چې د سلطنت موده يې له درو مياشتو نه زياتيږي

د پير محمد کاکړ هغه اشعار چې د خپل شاگرد د پادشاهۍ په باره کې يې کښلي دي دا دي:

پس له حمده له درووده

شاه سليمان دحکم نمر دی

د شاه تخت سليماني دی

زېب زينت دی شاه د علم

په ميدان د جنگ هم شېر دی

صاعقه د ده د قهر

پښتانه ور باندې شاد شوه

شاه زاده د علم کان دی

د دولت يې زه دعا کړم

Download from: ketabton.com

ځو امکان د بقا وينه

چې عالم باندې روشن دی

شوه د شاه مدحه مقصوده

کل عالم پرې منور دی

عجب لطف يزداني دی

سيال يې نشته ځوك په حلم

د اعدا په حق شمشېر دی

ورانوي د دښمن ښهر

له همه غمه آزاده شوه

نن رونق د درست جهان دی

دبخت خواست يې تل له خدا کړم

دا آفتاب دې رب لرينه

تمام ملك په ده گلشن دی)1(

د تيمور پادشاهی :

لکه چې د مخه اشاره وشوه اعليحضرت تيمور شاه د خپل پلار غازي اعليحضرت احمد شاه بابا په وصيت او د سردار عبدالله خان پوپلزي ديوان بيگي او نورو مشرانو په ملاتړ او پلوي په کال (1186ق او 1773ع) کې د درانيو د قام د دوهم پادشاه په حيث پر تخت باندې کيناست او د افغانستان خپلواك پادشاه شو

د پايتخت نکلول:

اعليحضرت تيمور شاه دسلطنت د کيناستو نه ځو مياشتې وروسته خپل پايتخت له کندهار نه کابل ته ځکه نقل کړ چې

Download from: ketabton.com

کابل ډېره ښه او معتدله هوا درلودله

د تجارت له کبله یې ډېر زیات اهمیت درلود

د سیاست له مخې یې هند ته د نږدیوالي له امله زیات اهمیت درلود

له ټولو څخه ډېره غوره دا وه ، چې اعلیحضرت تیمورشاه په دې کار سره غوښتل ، چې د کندهار د خانانو ته به په هوسا او آرامه سره حکومت وکړي او د هغو له حملو او یرغلونو څخه به بچ او په څنګ وي) 1 (

تیمور شاه پوهېده ، چې په کندهار کې په آرامه سره حکومت کولای نه شي ، دا ځکه د احمد شاه بابا د سلطنت او لویې امپراتورۍ په ځلانده دوره کې درانیان په اقتصادي ، سیاسی او نظامي لحاظ د نورو قومونو نه ډېر غښتلي او ممتاز شول، ددې علت دا و، چې له یوې خوا دوی ته تر نورو قومونو زیاته تنخوا (معاش) مقرره و او له بلې خوا د عسکري خدمت په مقابل کې د ډېرو ملکونو او کروندو مځکو خاوندان وو او هم یې د فتوحاتو په لړ کې ډېرې ولجې تر ګوتو کړې وې) 1 (

د دغو ټکیو له مخې درانیان دومره غښتلي او قوي شوي وو ، چې خپله حکومت ته د وېرې او خطر لوی خنډ او سرچینه وو ، تیمور شاه ، چې د دوی له راتلونکیو احتمالي یرغل او حملې نه ډاریده ، کندهار یې پرېښود او مرکز (پایتخت) یې کابل وټاکه چې په دې ډول یې ځان لږ څه آرام او ډاډه حس کړ پر تخت له کیناستو وروسته د تیمور شاه لومړنۍ غلتي دا وه ، چې هغه خپله دارالخلافه د کندهار نه کابل ته نقل کړه ، ددې پېښې علت دا و ، چې د کندهار د خلکو نه د سلیمان میرزا په ملګرتیا خپه شوی و له همدې کبله یې کندهار پرېښود چې کندهار د درانیو مرکز و د دراني تیمور شاه په زړه کې دا شك و ، چې دراني زړور ، زورور او په شمېر کې ډېر دي ، کله چې دوی یوه پادشاه ته اتفاق وکړي هغه د تخت نه کوز ولی او ایسته کولای شي) 2 (

تیمور شاه د خپل پلار په خلاف د حکومت ډېرې غټې څوکۍ پرته له پښتنو نورو مشرانو ته په واك کې ورکړې ، دا هغه خلك وو چې ډېر لږ یې پښتانه وو، په دې ډول سره تیمور شاه هغه تر خپل احسان لاندې را وستل په دغو مشرانو کې لومړنی سړی قاضي فیض الله خان و، چې د شاهي فرقې مشري یې په غاړه واخیسته) 1 (

د ظفر کاکا خیل په قول اعلیحضرت تیمور شاه عبدالطیف خان د محصول د ټولولو افسر او د قاضی عطاوالله په قول د وزیر په حیث وټاکه ، تیمور شاه خپل ساتندوی او محافظ فوځ د اسحاق زیو څخه جوړ کړ ، چې دا د درانیو یوه خواره او کمزورې قبیله وه تیمور شاه له دوی سره د قزلبا شو (12000) دولس زره کسیز فوځ هم ملګره کړ تیمور شاه د خپل سلطنت په لومړیو وختو کې د پښتنو ولسي او بې قاعدې لښکر ، چې اعتماد یې وربانديې نه کاوه ړنګ او لرې کړ ددې پر ځای یې یو منظم تنخوا خور لښکر جوړ کړ په دې توګه سره تیمور شاه د پردیو په ملګرتیا

Download from: ketabton.com

د قام له سردارانو او مشرانو سره خپلې اړیکې ورو ورو پرې کړې (2) دغو کارونو په سرته رسولو سره تیمور شاه د پښتنو په فکر یو پردی او بېګانه پادشاه وګڼل شو او پښتانه بې له شکه د هغه نه ډېر زيات خواشيني او ناراضه شول

تیمور شاه او قامي مشران:

څه وخت چې تیمور شاه د افغانستان په پادشاهۍ وټاکل شو ، ده د قام مشري د حاجي جمال خان زوی سردار پاینده خان ته وسپارله ، نوموړي سردار د تیمور شاه په ګټه او لنګه (خوا، طرفداري) د درانیو بلوا، چې د شاولي خان په لمسون رامنځ ته شوې وه شنډه کړه په دې لنډ او حساس وخت کې د احمدشاه بابا تره عبدالخالق خان هم غوښته ، چې د افغانستان پادشاه شي، خو هغه ډېره زر ماتې وخوړه او د ماتې له خوړلو سره یې سمدلاسه ونیو او په دواړو سترګو ړوند کړای شو ظفر کاکا خیل په دې هکله په خپل کتاب "پښتانه د تاریخ په رڼا کې" لیکي او وایي چې : د تیمور شاه د پادشاهۍ د بې نظمۍ یو علت د مشرانو مناسبات او بل هغه قیامونه او بغاوتونه وو ، چې د هېواد په منځ کې را پیدا شول ددغو پېښو په نتیجه کې دده د سلطنت شېرازې کمزورې او د اومړې تار په څېر سستې شولې

مونږ د مخه دې ټکې ته اشاره وکړه، چې د احمد شاه بابا له مرګ نه وروسته تیمور شاه د هېواد په کورنیو چارو کې له ډېرو خنډونو او ربړونو سره مخامخ شو د تاریخ له پاڼو نه داپه ډاګه جوتیږي ، چې په دغه وخت کې درانیان په اقتصادي او سیاسي لحاظ د احمد شاه په پوره پاملرنه ډېر غښتلي او قوي شوی وو) 1 (

تیمور شاه د مشرانو د خوارولو او کمزوري کولو له پاره له ډول ډول چالونو او لارو نه کار واخیست همدا وجه وه ، چې د تیمور شاه د سلطنت په لومړیو وختو کې داسې پېښې را پیدا شوې ، چې دده او قام د مشرانو تر منځ اړیکې یې لنډې او پرې کړلې ددې له پاره ، چې دغې موضوع ته په ښه شان ورننوزو دابه ښه وي ، چې همدا پېښې تر پوره څېړنې لاندې ونیسو

تیمور شاه او وزیر شاولي خان:

څه وخت ، چې د لوی احمدشاه بابا رنځورتیا او ناروغي سخته شوه او په دې پوه شو، چې دې اځل (مرګ) له غشي نه شي روغیدای ؛ نو خپل وزیران او لوی مخور یې ځانته راوغوښتل او هغوی ته یې وویل : چې زه خپل زوی شهزاده تیمور د سلطنت په تخت او تاج باندې کینوم او خپل ولیعهد یې ګنم) 1 (

Download from: ketabton.com

د احمد شاه بابا له دې نظر سره ډېرو وزيرانو او اميرانو خپله خوښه او رضا څرګنده کړه، خو ځينو ته په دې ټکي شك پيدا شو او پلمه (بهانه) يې جوړه کړه ، چې ولې اعليحضرت احمد شاه بابا له موږ نه په دې برخه کې مسلات او سلا ونه غوښتله ؟ بل ټکی دا، چې ولې احمد شاه بابا شهزاده سليمان وليعهد نه کړ ؟

لوی احمد شاه بابا، چې ډېر ناروغ و ددوی د قناعت دپاره يې داسې وويل :

"زما مطلب او هدف له دې کار نه يوازې او يوازې د ولس او خلکو خير دی دا، ځکه ، چې تيمور زما په ژوندانه کې ډېره پوهه ، لياقت او کفايت له ځانه څرګند کړی او د ښې ارادې خاوند دی شهزاده سليمان يو سست طبيعته او بې رحمه کراړ زړه لري ، چې د بلوا او پتنو د کرارولو په چل او تدبير باندې نه پوهيږي دده د ظلم او ستم نمونه د سردار ذال بيګ خان افغان مرګ دی ، چې دا زما د پاره ښه په زړه پورې مثال دی نو ځکه دی د وليعهدۍ وړ نه دی) 1 (

د احمد شاه بابا له وينا وروسته د قام مشران پرته له وزير شاوليخان او دده له ملګرو نه په دې اهم کار خوښ او راضي شول د وزير شاه ولي خان ملا تړ د سليمان له پاره د هغه د خپلوۍ له کبله وه ځکه شاه ولي خان خپله لور شهزاده سليمان ته ورکړې وه په دې وخت کې دده دا ډېر تينګار د خپل زوم د پاره د قام په مشرانو ، لويانو او سردارانو باندې بد ولګېد او له ده څخه يې طبيعت او مخ وګرزېد د دغو مشرانو له ډلې نه مدد اسحق زی له ده څخه بېل او شهزاده تيمور ته ورغی او له دې سترګو ليدلی حال او پېښې نه يې زور په زور پوره خبر کړ د مدد اسحق زي له خولې څخه څه وخت ، چې تيمور شاه د وزير شاولي خان او خپل ورور شهزاده سليمان په دغه کار او عمل باندې خبر شو، نو بې له درنګ نه يې په هرات کې د عالمانو ، شيخانو، رئيسانو او نورو لويانو يوه درنده جرګه را غونډه کړه او هغو ته يې وويل چې : " زه خپل پلار په خپل ژوند کې وليعهد وټاکلم، اوس ، چې هغه جنت پناه مړ شوی او دا بد له پاره يې سترګې له موږ پټې کړې دي وزير شاه ولي خان زه له سلطنت نه وشړلم او زما پر ځای يې شهزاده سليمان ، چې له مانه کشر او وړوکی دی د سلطنت په څوکۍ او شاهي تخت باندې کېنولی دی همدا اوس يې په کندهار کې زما د پلار په خزانو (خورځونو) خېټه اچولې او په خو شال زړه يې ډېده پرې وهلې ده؛ نو اې زما وطنوالو ! تاسې سلا راکړئ ، چې زه ددې غاصب څخه د سلطنت د نيولو حق لرم که نه ؟) " 1 (

د تيمور ددغې ونيا نه وروسته د هرات خلك له ده سره ودرېدل او د کندهار په لور را روان شول د تيمور له راتګ نه، چې د قام مشران خبر شول د هغه د ملاتړ د پاره ودرېدل ، چې دغه حال به پرلپسې په وروسته کرښو کې څرګند کړای شي

له تيمور سره د عبدالله خان دېوان بيګي مرسته:

Download from: ketabton.com

د شهزاده سليمان او شهزاده تيمور شاه د تخت کيناستو په خبرو کې شاه ولي خان د قام د نورو مشرانو د خوښې ، رضا او موافقې نه پرته د خپل قدرت او قوت په لاس سليمان پر تخت کيناوه ، دده تر ټولو تر بګنو او مخالفو کسانو نه مخکې د پوپلزيو مشر او رئيس عبدالله خان دېوان بيګي په ډېره ميړانه ددغه اقدام د شنډولو د مخنيوي د پاره ودرېد څه وخت ، چې سليمان د تيمور له راتګ نه خبر شو نو يې له وزير شاه ولي خان (خپل خسر) سره سلا او مشوره وکړه دواړو په ګډه سره دا غوره وګڼله ، چې څو يا بوګان په اشرپيو (پيسو) بار د دوست محمد خان تر مشرۍ لاندې کلات ، ته، چې د غلزيو استوګنځی و، وليږل شو ، چې په دغه ډول له هغه ځای څخه د پيسو په زور ورسره مرسته وشي د دوست محمد خان بل ورور ، چې شېر محمد خان نومېده هغه يې د بلوچستان و خواته وليږه ، چې د هغه ځای نه هم کومك وغواړي کله، چې سردار عبدالله خان دېوان بيګی د وزير شاه ولي خان په فکر او شوم نيت پوه شو ؛ نو ورو ورو يې خپل ملاتړي (ملګري) له کندهار څخه وايستل او خپلو کورونو ته يې وليږل ديوان بيګي د شهزاده تيمور په ملاتړ او لنګه کولو په ډېره ټينګه سره د وزير شاولي خان نه مرور شو او ددې کار د شنډولو په فکر کې شو د وزير شاه ولي خان زوی دوست محمد خان کله ، چې د تيمور شاه له راتګ نه کندهار ته خبر شو سمدلاسه د عبدالله خان ديوان بيګی کور ته دننواتې او عذرکولو په نيت ورغی ديوان بيګي په ظاهره له هغه سره ډېر ښه وضعيت وکړ، خو په پټه او باطن کې يې څوتنه په دې وګومارل ، چې هغه د خپل قام نه د باندې پرې نږدې او نظر بند يې وساتي ، د دوست محمد خان مور، چې د خپل زوی له نظربند کېدو څخه خبره شوله سمدستي او بې له درنګ نه يې خپل ميړه (شاولي خان) په دې مجبور کړ چې دی له خپلو دوو نورو زامنو شکورالله خان او آزاد خان سره د عبدالله خان ديوان بيګي کور ته دروغې او سلا دپاره ورشي

وزير شاولي خان څه وخت ، چې د خپلو دوو زامنو او دوو خوريونو سره د ديوان بيګي کره ورسېد ، سمدلاسه د ديوان بيګي له خوانه ، بې له دې ، چې خبرې ورسره وکړي ، بنديان شول د بندي کېدلو نه يې وروسته ټول شهزاده تيمور ته په ډېره مينه او خوشالۍ ور واستول تيمور، چې د وزير شاولي خان نه ډېر کلك خپه ، خواشينی او اندېښمن و؛ نو انګو خان نامی يې په پټه سره چې د وزير شاولي خان ډېر سخت او سر تيری تربور و دده او د هغه د زامنو د وژولو د پاره وګوماره انګو خان ، چې په خپل ژوند کې دا ورځ له خدايه غوښته د اختر د ورځې په شان ورته خوشاله شو او دا کار يې په ډېر مينه او خوښۍ سره تر سره کړ؛ نو يې د وزير شاولي خان او د هغه په زامنو خپله خوا يخه او درې واړه يې يو ځای ووژل (1) انګو خان بې له شکه د دوی وژلو ته دومره تږی و، چې د هغو خوارو په سرو وينو يې خپل لاسونه په ډېرې خوښۍ سره د نکريزو په څېر رنګ او سره کړل د وزير شاه ولي خان د وژلو سره سم د هغه دوه خوريونه د اسلام خان په لاس په هماغه ګړۍ کې يو ځای ووژل شول (2) که لږ ځير شو وينو ، چې د خپلوۍ د پيوند له امله وچ او لامده دواړه يو ځای سره وسول او له بلې خوا د وزير شاه ولي خان وژلو د قام د مشرانو تر منځ د خپګان او مخالفت اور لا پسې تازه کړ

Download from: ketabton.com

تیمور شاه او حافظ شېر محمد خان (د وزیر شاولي خان زوی):

د تیمور او سلیمان د تخت کېناستو په موضوع باندې کله ، چې وزیر شاولي خان د نورو مشرانو څخه خوا بدی شو؛ نو د تیمور د نه پادشاه کېدو د پاره یې خپل کوښښونه پیل کړل، لکه ، چې د مخه مو وویل شېر محمد خان د خپل پلار له خوا څخه د مرستې او کومك د پاره نصیر خان بلوڅ ته ولېږل شو دی د څه مودې د پاره هلته پاتې و او هڅه یې کوله ، چې د پلار د ملاتړ د پاره خلك پیدا کړي ، مګر لکه ، چې ولېدل شول تیمور شاه د رارسېدو سره د دیوان بیګی په مرسته دده پلار ، وروڼه او د پلار خوریونه مړه کړل ؛ نو هغه له وېرې هلته پاتې شو تیمور شاه ، چې د شېر محمد خان له وېرې او اړودوړ د پېښېدو نه بېغمه نه و؛ نو ددې بلوا د پای ته رسولو په غرض یې نصیر خان بلوڅ ته یو پیغام ور واستاوه او له هغه څخه یې د شېر محمد خان د بېرته ستنېدو غوښتنه کړې وه نصیر خان بلوڅ، چې غیرتمن سړی و د شیرمحمد خان د لېږلو او استولو نه بیخي ډډه وکړه ، دده دا کار ددې د پاره و او پوهېده ، چې که چېرې سمدلاسه شېر محمد خان د تیمور شاه لاس ته ورشي ؛ نو دا به هم خامخا د هغه پلار او وروڼو په څېر مړ کړي) 1 (

د وخت په تېرېدو سره کله ، چې شېر محمد خان ته دا جوته شوه ، چې تیمور شاه په کابل کې دی ؛ نو یې دا وخت د ځان د پاره غنیمت وګاڼه د خپلو ملګرو او لښکر سره له بلو چستان څخه راووت او کندهار ته راستون شو، شېرمحمد خان، چې هوښیار او ځیرك سړی و په کندهار کې یې د تیمور شاه په ګټه د عبدالخالق خان ورور ته ، چې د تیمور شاه پر ضد درېدلی و کلکه ماتې ورکړه حافظ شېر محمد خان یوه عریضه د خپلو جرمونو د عفوې او ښښنې په غرض جوړه او ترتیب کړه، د شهزاده همایون په شاهدۍ او کلك ملاتړ یې تیمور شاه ته ور واستوله) 1 (

شهزاده همایون د حافظ شېرمحمدخان صداقت ، مېړانه، مرسته او ملاتړ د عبدالخالق د ورور په ماتې کې خپل پلار ته په یو په پوره ډاډ څرګند کړ کله ، چې شېر محمد خان ته موقع په لاس ورغله او د تیمور شاه سره یې په کابل کې لیدنه او کتنه وکړه ، د هغه عریضه یې په ډېر غور سره وکتله ، تیمور شاه ، چې د نرم زړه څښتن و ، سمدستي یې هغه وبښلو او ټول هغه مال او جایداد، چې د خپل پلار (وزیر شاولی خان) د مخالفت په اثر ورځنې ضبط شوی وو بېر ته ده ته په واك کې ورکړل په دې ډول سره شېر محمد خان د تیمور شاه د ډېرو کلکو ملاتړو (ملګرو) څخه وګڼل شو) 2 (

تېمور شاه او سردار پاینده خان بارکزی:

اعلیحضرت تیمور شاه د تخت له کیناستنې وروسته سردار رحیم داد خان د حاجی جمال خان مشر زوی بارکزیو په سردارۍ او مشرۍ وټاکه ، دغه نوي مشر ته یې د خپل پلار مقام، عزت او منزلت ور وسپاره څرنګه ، چې دی یو

Download from: ketabton.com

خودخواه، خود غرضه او بې واکه سړی و؛ نو د خپلې بې کفایتی او بدې رويې له امله ديوې لنډې مودې د تېرېدو نه وروسته د خپل مقام (سرداری او مشری) څخه لرې کړای شو او پر ځای يې د هغه ورور سردار پانيده خان په مشرۍ وټاکل شو ، دا ډېر پوه او هوښياره سړی و او د تيمور شاه سره يې ښې مرستې وکړې او کولی يې ، دا چې دده ورور سردار رحيم داد خان يې ولې لرې کړ ؟ د هغه د بې اعتمادۍ او بې اعتبارۍ علتونه ډېر دي، چې موږ د مثال د پاره دې لاندې پېښې ته اشاره کوو

"سردار رحيم داد خان په خپله د پادشاه په مخ کې له شوخۍ او سپکوالي څخه کار اخيست ، بل دا، چې د دې داسې يو بې کفايته شوخ او سپين سترګي سړي په رتبه او منصب باندې د نورو درباريانو سره رخه او کينه پيدا شوه ، که څه هم دارنګه خبرې د هغه وخت د درباريانو تر منځ يوه کوچنۍ خبره وه دا، ځکه ، چې د يوه لوړوالی د بل د پاره تکليف و، هر يوه غوښته چې خپل ځان ، ځای او ثروت د مقام د نفوذ او زور په وجه لوړ کړي ، په هر صورت دا سردار د خپلې بې کفايتۍ له امله ګوښه کړی شو) 1" (

د پورته ټکي د اثبات د پاره د قاضي فيض الله خان پټ تحريك او بلوا د سردار رحيم داد خان په مقابل کې زمونږ له پاره پوره باوري دليل دی قاضي غوښتل ، چې د بېلو بيلو قامونو مشران په خپل منځ کې سره واچوي ده په دې پټ تحريك سره دا هيله درلودله ، چې د درانيو سردارانو په لرې کېدو سره به زما مقام لوړ او اوچت شي(2) قاضي ، چې په خټه او اصل پښتون نه و غوښته يې ، چې پښتانه په خپلو منځو کې سره بې اتفاقه واچوي ، څو، چې په دې ډول سره کمزوري او خوارشي ، د قاضي دغه پټ تحريك و ، چې د سردار رحيم داد خان غوندې هوښيار سړی هم تيمور شاه له مشرۍ نه لرې کړی او پر ځای يې د هغه ورور سردار پاينده خان په مشرۍ وګوماره ، ددغې دورې تاريخ ليکونکي او تاريخ پوهان وايي ، چې د سردار پاينده خان منځ ته راتګ هم يوازې او يوازې دده په شخصي لياقت، پوهه اوکړو وړو پورې تړلی و دی نه يوازې دا، چې تيمور شاه ته ګران و بلکې په قام او خپله ټولنه کې يې ډېر ملګري او پلويان پيدا کړي وو ، له ټولو نه يې غوره دا، چې ده د عبدالخالق خان په پېښه کې د خپل ځان څخه ډېر پوخ تدبير د هغه د شنډولو د پاره څرګند کړی و (1) دا دده تدبير او پوخ کار و، چې د عبدالخالق بلوا (وروسته به په خپل ځای کې راوړل شي) ختمه شوه ، په دې ډول ددې نامي سردار سره د تيمور شاه ډېره مينه پيدا شوې وه ؛ نو تيمور شاه هم لوړ مقام هغه ته ورکړی و

تيمور شاه او سردار جان خان پوپلزی:

تيمور شاه د خپل سلطنت په وخت او زمانه کې د کورني سياست د ټينګولو له پاره د سليمان په څېر د غټو او لويو قامي سردارانو څخه په وېره او ډارکې و له همدی کبله يې هغه يويو له کندهار څخه د خپل حکومت مرکز ته راوبلل ، څو، چې وکولای شي د هغوی له وېرې پرته د سلطنت واګې ټينګې کړي د قام له منځ نه د مشرانو رابلل او ويستل

Download from: ketabton.com

ددي مقصد د پاره وو، چې په مشرانو قام راټول نه شي ، په دې ډول ده غټ مشران له ځان سره نږدې په مرکز او پايتخت کې ساتل اوله خپل کور ، کلي او قام نه يې گوښې او څنگ ته کړل، ده مشرانو ته د خپل پلار په شان ډېره تنخوا ورکوله ددې سره سره له بله پلوه تيمور شاه د خپل وخت ډېر لوی او غټ مشران او سرداران د فيض الله خان په تحريك ، چې د تيمور شاه په دربار کې د غټ اعتبار او منصب څښتن و په ډول ډول پلمو خوار او کمزوري کړل ، د ساري په ډول د دوی له جملې او ډلې نه يو سردار جانخان پوپلزی د حليم خان زوی و، چې د مشهد د معاملو د ختمولو او د احمد شاه بابا مرگ نه وروسته له سکندر خان سره پېښور ته لېږل شوی و کله ، چې تيمور شاه د تخت کيناستو نه لږه موده وروسته څه آرام او ځای په ځای شو سردار جان خان سپه سالار او دده زوی سکندر خان يې د دوو بېلو بيلو فرمانونو په واسطه مرکز ته را وغوښتل ، دوی دواړه د فرمانونو د رسېدلو نه وروسته په ډېره بيړه سره کابل ته راغلل د دوی د راتگ علت د وزير شاولي خان د مرگ له امله خپگان او ملاتړ گڼل شوی دی کله ، چې را ورسېدل، له دې ځای نه زر تر زره کندهار ته ولېږل شول په لومړي سر کې دواړه ښه و نازول شول ، خو د څو ورځوله تم کېدو او تېرېدو نه وروسته سردار جانخان او د هغه ورور زمانخان د قاضي فيض الله خان په سلطنت ، چې يو غير پښتون درباري و دواړه د تيمور شاه له خوا څخه بنديان شول ، قاضي فيض الله خان په ډېره ځيرکتيا سره تيمور شاه په دې پوه کړی و چې دوی په قام کې غټ نوم لري او بل دا، چې د وزير شاولي خان په مرگ هم خپه او خواشيني دی ؛ نو يې بندي کول ضروري کار دی د فيض الله خان خبره تيمور شاه په ډاگ نه غورځوله څه به يې ، چې ورته ويل ، هغه منل کېدل د دوی دواړو د بندي کيدلو علت همدا وو خو په تيره د قاضي فيض الله خان او دده د ملگرو تحريك ، چې په دربار کې يې د مشرانو د ځپلو د پاره پيل کړی و مره اور ته يې ببوزی واهه ددوی په دې کار سره يې دا ځل ډېر ته هغه پخوانۍ بلوا، چې د وزير شاولی خان د مرگ له امله د قام د مشرانو تر منځ پيدا شوې وه ، د تيمور شاه غوږو ته ورسوله ، که څه هم سردار جان خان هيڅ گناه نه درلودله او د تيمور شاه سره يې زيات اخلاص او مينه درلودله) 1 (

فيض الله خان نه غوښتل ، چې پښتانه دې آرام وي ؛ نو دده په تحريك سره په 1191 قمري کال کې سردار جانخان د پښتنو ميړنی اتل په دل آرام کې د مخالفينو له خوا مسموم شو او ددې مسموميت په اثر يې د فاني نړۍ نه د ابد د پاره سترگې پټې کړې ، دا په ډاگه جوته شوه ، چې د فيض الله خان په پټو تحريکونو سره تيمور شاه ډېر زړور او توريالي پښتانه مشران له لاسه ورکړل او هم يې دده د تحريك له مخې په خپل منځ کې سره واچول ، چې په دوی کې يې لوی درز او بېلتون را پيدا کړ

تيمور شاه او برخوردار خان:

Download from: ketabton.com

دا میرنی افغان پښتون د هغو خانانو په ډله کې و کوم چې ، د تیمور شاه د سلطنت او په تخت باندې د کیناستونه د مخه د شهزاده سلیمان په ملاتړ د وزیر شاولي خان سره ولاړ وو برخوردار خان د لوی احمد شاه بابا په زمانه کې د لښکر په تنظیم او ترتیب ګومارل شوی و او دده له غوره ملګرو څخه ګڼل کېده، کله ، چې د احمد شاه بابا له مرګ نه څه موده وروسته تیمور شاه په تخت باندې کیناست ؛ نو د هغه مخالفین په تېره شاولي خان او دده ملاتړ ملګري ، چې په خپل هدف او مقصد کې بریالي نه شول ، ډېر خواشیني شول ، بر خوردار خان له هغه وخت څخه له تیمور شاه نه ډارېده او تل وېره ورسره مله وه دی پوهېده ، چې تیمور شاه په هر رنګ او وجه سره ، چې کیږي ماله منځه وړي او دی د تیمور شاه کړوته متوجه وو او غوښته یې ، چې په مناسب وخت کې هغه ته د ځان د عفوې په برخه کې څه عرض وړاندې کړي دا، ځکه دی په دې هم پوه و، چې تیمور شاه د نرم زړه څښتن دی کله یې ، چې چاته د زړه سوي او ترحم کولو مخ ور واوړي ؛ نو بې له درنګ څخه یې پخوانۍ رخې له زړه څخه ووزي او سړی بخښي برخوردار خان یوه ورځ د ځان د خلاصون د پاره داسې چاره او تدبیر وسنجولو (1) ، چې تیمور شاه له حده زیات وربانډې مهربانه شو او د هغه تېر کړه یې هېر او خورا لورېینه یې پرې وکړه ، په دې کار او تدبیر سره د تیمور شاه په نږدې ملاتړ ملګرو کې حساب شو

تېمور شاه او د عبدالخالق خان را پورته کېدل:

د تیمور شاه د پادشاه کېدو د بیان په وخت کې مو د مخه دا ټکی یاد شو، چې درانیو د عبدالخالق د ملاتړ او د هغه د پادشاه کېدو دپاره لیچې پورته کړې ، خو دا پېښه زر تر زره د حاجي جمال خان زوی سردار پاینده خان له خوا د تیمور شاه په ګټه شنډه شوه:

د 1774 او 1775 کالو ترمنځ یو کلك اړودوړ د تیمور شاه د پادشاهۍ د ړنګېدو د پاره پېښ شو، چې مشر یې عبدالخالق و (1) دې نامې سردار او مشر په دې لنډ وخت کې د ښکار پور د مځکو د مالیې اجاره په شپږو لکو روپیو په غاړه اخیستې وه د مالیې د راټولولو د پاره تیمور شاه شیخ عبدالطیف خان د مالیې وزیر هغه ته ور ولیږه ، چې د مځکو مالیه ور څخه واخلي او د دولت خزانې ته یې واچوي کله، چې د مالیې وزیر ور ورسېد له هغه یې د مالیې د ټولېدو غوښتنه وکړه، خو عبدالخالق خان د مالیې وزیر ته په ځواب کې وویل : " خوارې مه کوه تر اوسه پورې زر نه دې راټول شوي " د مالیې وزیر بیا بیا د مالیې د غوښتنې تاکید او ټینګار وکړ او څو تنه یې هغه ته ورولېږل او ورته ویلي یې و ، چې عبدالخالق خان ته وواياست ، چې د مالیې ورکړه ضرور ده ورلېږل شویو کسانو د عبدالخالق خان په حضور کې د مالیې د وزېر خبرې هغه ته واورولې، خو عبدالخالق خان هغو ته وویل: " مالیه نشته ، زما ځواب په دې برخه کې منفي او نه دی "

Download from: ketabton.com

عبدالخالق خان پوهېده ، چې د ماليې وزير به زما په دې کار زما له خوا څخه پادشاه ته شکايت وکړي؛ نو يې د ځان د ساتنې د پاره د ښکارپور مځکه د پادشاه د ډار او وېرې له کبله پرېښود له او کندهار ته ، چې د درانيو مرکزو راغی، تيمور شاه هم ددې ياغي او سرکښ سړي د ټکولو له پاره څو تنه و گومارل چې هغه پيدا کړي ، څنگه ، چې ده خپل ځان ډېر ساته؛ نو هغو پيدا نه کړای شو، عبدالخالق خان په ډېره بيړه او تلوار سره پر لاره تېر شوی او د کندهار مرکز ته رسېدلی و ؛ نو ځکه د تيمور شاه گومارل شويو کسانو پيدا نه کړ) 1 (

عبدالخالق خان ، چې د احمدشاه بابا تره او مشر سړی و کله ، چې کندهار ته را ورسېد؛ نو په کندهار کې يې د درانيو په يوه لويه جرگه او غونډه کې مشرانو ته د تيمور شاه له خوا زيات شکايت وکړ او داسې يې وويل : " تيمور شاه درانيو په ښه او دراندہ نظر نه گوري ، په دربار کې يې پښتانه لږدي ډېر او د هغوی پر ځای يې دربار د نورو پستو (نرمو) ژبيو څخه ډك دی او هغه نازوي ، دا نازولي، چې په ختہ پښتانه نه دي په هغو باندې پښتانه په خپل منځ کې سره وهي" په دې شېبه کې هغه مشران ، چې د وزير شاولي خان په مرگ د تيمور شاه څخه زيات خواشيني او مرور وو، د عبدالخالق خان شکايت او خبرو ته يې په ټينگه غوږ ونيو(1) او د هغه سره يې گډه پرېکړه د تيمور شاه د غورځولو او ټکولو د پاره وکړه د عبدالخالق خان د خبرو نه وروسته د هغه د ملاتړ ملگرو او مشرانو له خوا څخه دی د تيمور شاه پر ځای د سلطنت او د پادشاهۍ د مقام او تخت کيناستو د پاره په گوته او وگومارل شو، چې موږ ټول به ددې گډ هدف د لاس ته راوړو د پاره درسره يو ځای ولاړوو تردې پريکړې وروسته مشرانو هغه ته پنځه ويشت زره (25000) عسکري لښکر، چې د قومي او ولسي خلکو نه جوړ شوی و په واك کې ورکړ او د کابل د نيولو په نيت او د تيمور شاه د پادشاهۍ د ړنگولو په خيال په ډېر غورځنگ سره له کندهار څخه مخ په کابل را روان شو او د جنگ د پاره يې لازم او منظم ترتيب ونيو دراني تيمورشاه ، چې د عبدالخالق خان او د هغه د ملاتړ مشرانو له دې کلك اقدام نه د کابل په لور خبر اواگاه شوی و، خوراخوا بدی، پرېشان او خپه و؛ نو ده د ځان د ساتنې او سلطنت د دوام او پايښت دکابل، جلاّباد او پېښور شاو خوا اميرانو او مشرانو ته دمرستې او کومك پيغامونه ور وليږل ، چې ددې بلوا د ختمېدو د پاره ورسره ملگري شي، خو د دوی له خوا کوم مثبت ځواب هغه ته ورنه کړ شو دی ، چې د خپلو پيغامونو د استول شويو سيمو نه نا اميد شو؛ نو يې بله چاره پرته له دې څخه ونه ليدله او سمدلاسه يې دلاورخان د بلخ له ولايت نه کابل ته راوغوښت او دا ددې له پاره ، چې په تنگ او لنډ وخت کې له هغه سره مرسته وکړي

په دې حساس، لنډاو تنگ وخت کې، چې عبدالخالق خان د کندهار له خوانه د کابل لوري ته د کابل د نيولو د پاره راروان و، د کابل د سيمې مشران او منصبداران هم د تيمورشاه د امر نه تقريباً په ډډه او واوښتل او په جلا جلا ډول يې د دفاع او مخ نيوي پيشنهادونه وړاندې کړل د تيمورشاه مور، چې په دې لنډ وخت کې دا بد حال وليد(1) اود هغه ماتې خامخا ورته ضرور ابسېدله؛ نو بې له درنگ نه عبدالله خان ديوان بيگي ته ورغله او په خپل لاس يې د تيمور شاه او دده لاسونه سره ورکړل او ورته وی ويل : " ښاغليه ديوان بيگي صاحبه ! ما نن ورځ د شاه دراني زوی

Download from: ketabton.com

په تا سپارلی دی" په دې شببه کې که څه هم دیوان بیګي د هغې خبرې ته سم پام ونه کړ دا ځکه د هغه زوی د عبدالخالق په ډله کې شامل او د هغه د ملاتړ ملګرو څخه و، خو دغه دلیل تر ډېرې پورې سم نه دی کوم علت ، چې مؤرخین غوره ګڼي هغه دادی: له یوې خوا تیمورشاه د وزیر شاولي خان د وژلو له امله هغه ته خپل اهمیت بایللی و، دا ځکه ده داسې فکر نه کاوه، چې زما په ملاتړ سره ، چې وزیر شاولي خان هغه ته وسپارل شو؛ نو به یې سمدلاسه مړ کړي، دې کوچني کار تیمورشاه دیوان بیګی ته ووړاو کوچنی کړی و، له بلې خوا د مرکز (پایتخت) بدلولو او د پارس دود او دستور خوښولو بنې او ځینو نورو نیمګړتیاوو دیوان بیګی له تیمورشاه څخه اړولی و ؛ نو ځکه یې د هغه د مور خبرو ته څه توجه ونه کړه

کله، چې تیمور شاه ټولې لارې پر مخ تړلې ولیدلې؛ نو خو را ناامید او خپه شو دی د خپل تدبیر په سنجولو کې و او نابېره ، چې ډېرې غصې او قهر نیولی ، و په تر یو تندې یې سمدلاسه خپل زر تنه تنخوا خواره سپاهیان ، چې ده په خپل وخت کې نیولي وو د جعفر خان چندولي تر مشرۍ لاندې د غزني په لور د عبدالخالق د ماتې د پاره ولېږل، ددغو عسکرو له لېږلو وروسته دی د شپږو زرو تنو سره روان شو او د شش ګاو په برخه کې یې د عبدالخالق د مخ نیوي او مقابلې لارو نیوله کله ، چې د دواړو دښمنو او مخالفو ډلو د مخامخ کېدو په وخت کې د عبدالخالق خان د لښکر نه دوه تنه مشران محراب خان او دلاور خان له هغه نه جلا او بې له کومې ګټې او د دوستۍ په خاطر د تیمور شاه سره ودرېدل او هغو له ځان سره یوه ډله ملګري هم بېل کړل (1) په دې کار سره د تیمو شاه مټ کلك او د عبدالخالق مټ کمزوری شو، تیمورشاه ، چې عبدالخالق او د هغه نورو نږدې مشرانو ته ډیر قهر نیولی و د عبدالخالق د لارې د بندولو په غرض یې، چې د کابل په لور مخ په وړاندې رانه شي، څلور سوه قلماقي غلامان په لار کې ګومارلی وو او هغوی ته یې د دښمنې ډلې د ځپلو لازم هدایتونه ورکړي و، د دښمنو ډلو ترمنځ په شش ګاو کې د مخامخ کېدوله امله جنګ په ډېر قوت سره پیل شو څنګه ، چې د تیمور شاه لښکر په درنده او قوي شاهي باجې خانې او درندو توپونو باندې سنبال و(1) د جنګ او نښتې په وخت کې بری او فتحه په برخه شوه د کندهار لښکر ، چې ډېره وسله نه درلودله او په منظم ډول سره یې جنګ نه شو کولای د جنګ په وخت کې دوه زره تنه مړه او عبدالخالق هم د تیمور شاه د لښکر لاس ته ورغی (2) په دې جنګ کې مدد خان او سردار پاینده خان د تیمور شاه په ګټه او ملاتړ ډېره کلکه میړانه وکړه دا د دوی میړانه وه ، چې تیمور شاه بری وموند او پاینده خان په خپله ځیرکتیا سره د عبدالخالق خان ډېر زیات پاخه ملګري د جنګ په وخت کې د تیمور شاه په خوا راواړول همدارنګه مدد خان ، چې یو پوه او زړور جګړن و په جنګ کې یې کلکه توره وکړه

د تیمورشاه په وخت کې دا بې ساری اړودوړ ، چې د عبدالخالق په مشرۍ پیل شوی و، دده په نیولو او ماتې سره ختم شو څنګه ، چې عبدالخالق خان مشر او سپین ږیری سړی و؛ نو د نیولو په وخت کې یې د مرګ نه د خلاصون له پاره فکر کړی و، ده د هوښیارۍ نه کار واخیست کله ، چې تیمورشاه ته راوستل شو؛ نو بې له درنګ نه یې د هغه د وژلو امر صادر کړ ، خو هغه داسې ورته وویل :" آیا ته شرم نه لرې، چې ما ستا پلار سره په یوه ګډ لوښي کې

Download from: ketabton.com

همیشه ډوډۍ خوړله او هغه به زما احترام کاوه دا ځکه زه د هغه تره وم (1) تیمورشاه، چې د نرم خوی او تنکي زړه ښتن و د هغه وژلو نه تېر شو او د ځان سره يې وساته، خو ددې سره سره يې هغه په سترګو ړوندکړ، په دې ډول د عبدالخالق دا سخته بلوا د تیمورشاه په مقابل کې ختمه شوه

تېمور شاه او د فيض الله خان خلیل بغاوت:

په 1779 کال کې د خلیلو مشر فیض الله خان، د څکمنیو صاحب زاده او د برو مومندو مشر ارسلاخان د تیمور شاه د وژلو او د شهزاده سکندر شاه د پادشاه کېدو د پاره، چې د احمدشاه بابا شپږم زوی و ، په ګډه دا پرېکړه وکړه ، چې په هره وجه کیږي(1) دوی به دا عمل او خپل جوړ شوی پلان تر سره کوي ، ولو که د دوی په وژلو هم تمام شي په دغه وخت کې تیمورشاه د پېښور په بالاحصار کې په خپله شاهي کلا کې استوګنه درلودله او د پنجاب د حملې او برید په باره کې يې د خپلو مشرانو او مخورو سره سلا مشوره او فکر کاوه) 2 (

فيض الله خان ، چې د پېښور د مځکوالو ، مشرانو او غټانو رئیس وْ، د تیمور شاه د وژلو پرېکړه او پلان يې بیا د تیمورشاه له یوه نږدې دوست خواجه سری یاقوت خان سره نوی کړ(3) خواجه یاقوت ، چې د تیمورشاه د حرم او دده د سرای د ساتلو مشر و او په دې پرېکړه يې خوله پټه کړه او چاته يې څه ونه ویل فیض الله خان د خپل پلان د عملي کولو د پاره له خپل ملاتړ ملګرو سره په اول کې د مکر او حیلې څخه کار واخیست او د دوستۍ په جامه کې يې له چل نه کار واخیست د تیمورشاه حضور ته راغی او کله ، چې دی هلته د خپلو ملاتړو کسانو سره ورسید؛ نو داسې يې وویل : " مونږ د پادشاه حضور ته دا ډول عرض لرو، د پنجاب سېکانو د مسلمانانو په ضد او د هغوی د ماتولو د پاره بلوا او اړودوړ را پورته کړی دی اما ستاسو امیران او منصبداران ډېر ورڅخه تنګ شوي دي، که د پادشاه اجازه او امر وي زه به د خلیلو، مومندو او ځینو نورو خلکو په راټولولو د هغوی کرارولو او ځپلو ته ورودانګم تیمورشاه دده عرض منظور او هغه يې ومانه) 1 " (

فيض الله خان خلیل ، چې مخکې له مخکې د تیمور شاه د وژلو اوله سلطنت نه د غورځولو نیت او قصد کړی و د د خپل مرام او مطلب د ترسره کېدو نه وروسته د پنځه ویشت زره لښکر سره د فرصت او وخت په انتظار کېناست ، او دې ته سترګې په لار و چې کله به خپل هوډ ترسره کړي فیض الله خان یوه ورځ د غرمې د ډوډۍ له خوړلو څخه وروسته د غرمې د خوب په نیت چې ویده شي د پېښور بالاحصار ته ولاړ ، ددې په ځای چې ویده شي د سلطاني تاریخ په قول (1) دا وخت يې له بل هر وخت نه ښه غنیمت وګاڼه او ملاتړ ملګري او خانان يې د خپل ټول را غونډ شوي لښکر سره ، چې شلو زرو تنو ته رسېده او د مخه يې مشوره او پرېکړه کړې وه د تیمورشاه د کتنې او لیدنې په پلمه د هغه پر حصار او ماڼۍ وردننه شول د کلا پیره دارانو او ساتونکو زیات مقاومت وکړ او ورته وی ویل :" بې له مشرانو باید ټول ولاړ نه شئ " د پیره دارانو مقاومت او ټینګار په بهانه ، چې فيض الله خان خپل لښکر پوه کړی و ،

Download from: ketabton.com

په پوره بېرحمۍ او بې له زړه سوي څخه د هغوی په وژلو برید او لاس پورې کړ، په دې شیبه کې یوشمېر پیره داران او ساتونکی ووژل شول څه وخت ، چې تیمورشاه د خپلو پیره دارانو سوې نارې ، چغې او بدحال ولید نو د حصار لوړ برځ (برج) ته و خوت او خپل خاص او مخصوص ګارډ ته (دده د مخصوص ګارد یادونه د مخه راغلې ده ، هغه خپل ساتونکی ګارډ اسحق زیو نه جوړ وه، ده په هغو باور درلود ، چې په ډېر مشکل او سخت وخت کې به مې په کار شي ؛ نو یې د قام بې قاعدې لښکر، چې د درانیو او نورو پښتنو قومونو نه جوړ شوی و له منځه لرې کړ او پر ځای یې تنخوا خواره عسکر ، د تاجکو او اسحق زیونه د عسکرو په بڼه سنبال کړ) اشاره وکړه او هغوی ته یې وویل ، چې ارګ ته د مقابلې او تورې د پاره ورننوزئ شاهي عسکرو، چې د مقابل لوري حیله ګر لښکر ولید د خپلې وسلې او ځان د ساتنې په غرض یې داسې سخت برید پرې وکړ ، چې په یوه درنګ یې د خپلې درندې شاهي وسلې په قوت له کلا نه ورشنې (بېدیا) ته وویستل، دوی هغوی ته موقع ورنه کړه او په خورا مېړانه، توره او وژلو سره یې دفیض الله خان اود هغه د ملاتړ ملګرو ولسې لښکر په ماتولو باندې یې له ډېره قهره خپله خوا یخه کړه، ددوی په پرلپسې وړاندې تګ سره په ولسي لښکر کې ماتې ګډه شوه په دې سخت اړودوړ او چپاوکې فیض الله خان او د هغه زوی ونیول شول دوی دواړه له ډېر کړاو او عذاب تېرولو نه وروسته ووژل شول ارسلاخان ، چې د فیض الله خان سره ملګری و او په دې پېښه کې یې لوی لاس درلود له دغه ځای څخه وتښتېد، د ځکمنیو صاحب زاده ، چې یو روحاني او مذهبي سړی و د قام د نفوذ او په هغه باندې د زړه د بدېدو له امله د مرګ نه بچ کړای شو په دې ډول سره د دغو دریو تنو پټه پرېکړه ، چې د تیمورشاه د مرګ او وژلو د پاره شوې وه ناکامه شوه دغه درنه پېښه دده د عسکرو په مېړانه او سر ښندنه ، چې دده په اشاره سره د دښمن په مقابل کې ودرېدل بیخي شنډه کړای شو

د ارسلاخان تېښته:

ارسلاخان ، چې سلطاني تاریخ د اسدالله په نوم یاد کړی دی ، د لوی احمد شاه بابا په وخت کې د سرهند په صوبه دارۍ (1) مقرر او احمدشاه بابا ته ډېر ګران و له بده مرغه په دې وخت کې یې د خلیل (فیض الله خان) سره د ډېرې ګټې په خاطر د تیمورشاه مرګ ته ملا وتړله ، کله ، چې ده او فیض الله خان په خپل جوړ شوي پلان کې د تیمورشاه له خوا ماتې وخوړه ؛ نو فیض الله خان د مرګ په لیدلو سره دی وتښتېد او ځان یې اتمانخېلو ته ورساوه (2) کله، چې ارسلاخان د اتمانخېلو لومړي کلي ته نږدې ورسېد، د کلي مشران د خبرو د پاره د هغه سره د کلي نه بېدیا ته ووتل او هغه ته یې وویل :" تا موږ په خپل کلی کې پرېښودلی اوساتلی نه شو دا، ځکه، چې موږ د پادشاه سره د مقابلې او جګړې توان نه لرو، هغه زموږ پادشاه دی څه وخت، چې ته زموږ کلي او سیمې ته ننوزې او شپه تېره کړې ؛ نو موږ خامخا ستا د ساتنې په باب پښتني دود او پښتونواله تر سره کوو او په ننګه دې درېږو ارسلاخان د دوی سره د یو لړ خبرو کولو نه وروسته په یو چل خپله کډه د خپلو ملګرو په لاس کلي ته وردننه کړه او د هغه چل داو : ده په ډېر مهارت سره د کلي مشران په خبرو کړل او ملګرو ته یې لا پخوا ویلي وو چې زه به د دوی سره خبرې کوم او په دې وخت کې به سمدستي تاسې کلي ته زما د کډې سره ننوزئ کله ، چې د کلي مشران د کډې

Download from: ketabton.com

په ننوتلو باندې کلي ته خبر شول ؛ نو يې ورته وويل اوس د خبرو ضرورت پاتې نه شو هرڅه سم شول، دی يې په تود هرکلي سره خپل کلي او جومات ته بوتلو او داسې يې ورته وويل : "ته اوس زمونږ ميلمه يې او مونږ د تاپه ساتنه مجبور يو "1)

په دې ډول تيمورشاه د ارسلاخان د پيدا کېدو او نيولو نه نااميد شو؛ نو ديوه چل نه يې د هغه د لاس ته راوړلو دپاره کار واخيست ، دده چل داو ده په خپلو مجلسو کې ويل :" ما اوس ارسلاخان ښبلی دی" دده داخبره ورو ورو په ولس او خلکو کې تيت او خوره شوه ، هغو يقين وکړ، چې په رښتيا سره تيمورشاه د نرم زړه څښتن دی ، مګر څه موده لا تيره نه وه ، چې قاضي فيض الله خان تيمورشاه پوه کړ او هغه ته يې وويل : په هره وجه سره ، چې کيږي ارسلاخان زه ستا حضور ته حاضروم قاضي فيض الله خان، چې پښتانه يې په کراره نه پرېښودل ارسلا خان ته يې په چل او ذمه وارۍ يو قرآن ور واستاوه ، د ښبنی او خلاصون ليك يې د دې قرآن پر مخ ، چې د شاهي مهر په واسطه سره ليکل شوی وکېښود، په دې توګه سره قاضي فيض الله خان ارسلاخان پېښور ته را حاضر کړ، تيمورشاه په اول کې د قاضي فيض الله خان په شفاعت سره د ارسلاخان د وژلونه ډده وکړه،(1) مګر د خلکو او قاضي صاحب په چلونو سره د نږدې درباريانو د زيات اسرار او شکايت له امله د هغه خوراکي د وژلو امر صادر کړ، او په حق ورسېد

تېمور شاه او د آزاد خان بغاوت:

آزاد خان د حاجي کريمداد خان زوی و، دده پلار د عليحضرت احمد شاه بابا له خوا د کشمير حکمران مقرر شو ، او ددغې وظيفې نه د مخه يې د عرض بيګي وظيفه ترسره کوله کله ، چې حاجي کريمداد خان مړ شو ، دده زوی آزادخان تيمور شاه له خوا خپل د پلار پر ځای په کشمير کې حاکم وټاکل شو)2)

آزادخان په خپل وخت او زمانه کې په سخاوت او مېړانه کې ساری نه درلود، د خپلې حکمرانۍ په وخت کې يې ډېر خلك د خپل نيك خوی او ښه سلوك په اثر د ځان ملګري او پلويان کړي وو دا شان په خپل مټ او توان لس زره کلك سواره په خپل ځان پسې هم ملاتړ درولي وو د وخت په تېريدو سره ده د دووکالونو حکمرانۍ کولو څخه وروسته د استقلال اعلان وکړ په دې شيبه کې دده ورونه د تيمورشاه ملګري او ملاتړ وو دی يې د پادشاه د ياغي کېدو نه منع کاوه، خو ده د هغو خبره ونه منله سره له دې ، چې د هغوی سلا يې خوښه نه کړه په دې وجه ، چې د تيمورشاه پلويان وو ، له کشمير څخه يې هم وشړل(1)

څه وخت چې تيمور شاه د آزادخان له ياغي کېدو نه خبر شو ډېر خوابدی، پرېشان او خپه شو، خو د هغه د بلواد شنډولو د پاره يې په اقدام لاس پورې کړ په لومړي سر کې يې هغه ته محمد علي خان ، چې په کفايت خان سره مشهور و ، دده د هدايت او نصيحت کولو دپاره ورولېږه(2) تيمور شاه په دی وجه سره غوښته ، چې د ازړور او د

Download from: ketabton.com

ښه خوی پښتون بې له کوم زيان او تکليف د رسېدلو څخه دې ته اړ کړي ، چې په خپله خوښه له دې کار او عزم نه لاس واخلي څو ، چې خبره توري او مرگ ته ونه رسيږي

کله، چې کفايت خان دپادشاه په امر کشميرته ورسېد، په ډېره خوږه ژبه اونرمه لهجه يې د تيمورشاه پيغام هغه ته ورساوه او په خندا يې ورته ولوست د کشمير د ماليې د غوښتنې په برخه کې، چې آّزادخان را ټولوله او مصرف کړې وه د هغې په عوض کې يې له ده څخه دوه درې لکه روپۍ د سفر خرڅ په پلمه وغوښتې دا شان يې د هغه د حال او استقلال غوښتنې په باره کې تيمورشاه ته يو ليك واستاوه ددې خط په رسېدو سره تيمورشاه د هغه په حال او کړو ، چې دده په مقابل کې پورته شوی و ښه خبر شو او د چارې په لټه کې يې شو(1)، په همدې وخت کې کفايت خان هم کابل ته را گرزېدلی و، کله چې کابل ته را ورسېد تيمور شاه يې د آّزادخان له حال او کيفيت څخه خبر کړ له دې وروسته تيمور شاه مرتضی خان او زمان خان د آّزاد خان ورونه د هغه د ټکولو له پاره د دېرش زرو (30000) لښکرو سره ورواستول څه وخت ، چې دوی کشمير ته ورسېدل آّزادخان هلته نه و او د خپل خسر په کور کې دېره و په دې وخت کې دی د ورونو له راتگ نه ، چې دده په ضد د لښکر سره راغلی وو خبر شو؛ نو په ډېره مېړانه د هغو د جنگ او مقابلې دپاره مخې ته ور ووت په لومړۍ ښتبه کې آّزاد خان ماتې ومونده، خو دده د اکا زوی په دې ښتبه کې په پوره توري سره د تيمورشاه د لښکر په مقابل کې کلك مقاومت وکړ دده

د مېړانې او بريالۍ حملې له امله په پای کې د تيمورشاه لښکر مات او تيښتې ته اړ شو، خو د ماتې له امله د آّزاد خان سره يو ځای د کشمير لورته په گډه دننه شول د تيمورشاه په لښکرو کې يوازې يو تن ، چې د سيدانو څخه و تر آّخره پورې کلك په مېړانه ودرېد ، تردې اندازې پورې مېړانه يې وکړه ، چې دده توره او قوت په خپله د آّزاد خان هم خوښ شو او د ماتې نه وروسته يې هغه ته د مېړانې له امله ډېر عزت ورکړ آّزاد خان د تيمورشاه د لښکرو نه درې زره تنه بنديان ونيول او هغوی ته يې وويل : " تاسې ته خپله په دې ټکي واك او اختيار دی ، چې کشمير کې زما ملازمت کوئ او يا بېرته کابل ته ځئ " د دوی له ډلې نه يونيم زر تنه په دې راضي شول چې بېرته کابل ته ولاړ شي، آّزداخان د دوی له دې نظر يې او رايې نه ناراضه او خوابدی شو او په پټه يې د مظفرآّباد بېرۍ چلونکو ته د هغوی د ډوبولو امر صادر کړ څه وخت ، چې ددې ماتې خبر تيمورشاه ته ورسيد سمدستی له کابل نه د پېښور په لور وخوځېد او پېښور ته د رسېدو سره سم يې سردار مددخان اسحق زی او ځينې نور سرداران د کشمير خواته ولېږل ، څو ، چې آّزداخان له پښو وغورځوي او له دې سختې پيښې نه په امن شي څه وخت ، چې د تيمورشاه په امر سردار مدد خان د آّزادخان د ماتولو دپاره کشمير ته ورسېد، د رسېدلو سره يې سم او بې له درنگ نه په جنگ لاس پورې کړ ، د دواړو دښمنو او مخالفو ډلو ترمنځ څو ورځې پرله پسې سخته ښتبه وشوه ډېر ځوانان په کې خاورې شول ، خو يوې خوا ته هم فتحه او برې په نصيب نه شو سردار مددخان ، چې د تيمور شاه يو پوه نظامي سردار و په ډېره هوښيارۍ او ځيرکتيا سره يې(1) د آّزاد خان ځينې سرداران او د لښکر مشران په ځان پسې واړول ، کله ، چې آّزادخان له دې کار نه خبر شو او په دې هم پوه شو ، چې قوت او قدرت يې په خپل منځ کې کمزوری او ټوټې ټوټې

Download from: ketabton.com

شي ؛ نو بله لار یې ونه لیدله ، د وېرې او ډار له کبله یې په تېښته او فرار لاس پورې کړ، د جنگ په حال کې یې د راجه رستم کور ته ، چې دده خسر و ځان ور ورساوه ، دده د خسر کور او ځای ، چې په وچ بیابان ، سولین او شگلین ډاگ کې آباد شوی و د تیمورشاه د لښکرو په مقابل کې یې د دېوال او سد مثال درلود ، دې وچ او سولین ډاگ ته ، چې اوبه یې نه درلودلې د ورتلو امکان ډېر کم او یا هیڅ نه و سردار مددخان ، چې د هغه د تیښتې لار و لیدله او پوه شو ، چې جنگ نه ورسره کیږي ؛ نو د آزادخان خسر ته یې په کلکه ولیکل : که ته ، چیرې خپل زوم یعنې آزادخان مونږ ته ونه سپارې او په لاس کې یې را نه کړې ، دده په گناه به تا له تیغه تیر کړو ، دا ستا د خبرېدو د پاره پیغام و ، خوښه او رضا ستا هره لاره ، چې ته غوره گڼې هغه به د ځان د پاره خوښه کړې راجه رسم د مددخان له وېرې او د ځان او کورنۍ د ساتنې د پاره آزاد خان د خوب په حال کې ، چې ویده و ، د مددخان سختو او خونخوارو پنجو ته وسپاره دې نامې او توریالي سردار (آزاد خان) ، چې د خپل خسر حال ولید د مددخان د ور رسېدو سره سم یې په خپله ځان مړ کړ(1) په دې توگه تیمورشاه د کشمیر له دې کلك قیام نه په امن کې پاتې شو

د فتح خان یوسفزي یاغي لېدل:

فتح خان یوسفزي د مظفرآباد د ریاست د نیولو وروسته ، کله ، چې شاهي مالیه ټولوونکو د کشمیر د سیمې مالیه راټولوله د هغې د نه ورکولو مخه یې په کلکه سره ونیوله په دې ډول سره دغه خان هم تیمورشاه ته یاغي شو څه وخت ، چې تیمورشاه دده له یاغي کېدو او سر غړونې نه خبر شو، ډیر په قار شو او د هغه د ټکولو دپاره یې یو تکړه لښکر ولیږه کله ، چې د تیمورشاه لښکر د فتح خان سره د مقابلې په وخت کې مخامخ شو؛ نو د مخامخ کېدو او جنگ په وخت کې یې ته هغه کلکه ماتې ورکړه ، دا یاغي خان یې بندي د اعلحضرت تیمورشاه حضور ته لاس تړلی راوست تیمورشاه ، چې ولید سمدستی یې د هغه د غرغرې حکم صادر کړ ، په دغه ډول سره تیمورشاه دده له پورته کېدو خلاص او هغه خوارکی ووژل شو او دده د ریاست او څوکۍ پر ځای یې هغه زوی ، چې د تیمورشاه ملاتړ او طرفدارو په کورسۍ باندې کېناوه

Download from: ketabton.com

دوهم فصل

د تیمور شاه په وخت کې پوځي پېښې (لښکر کښۍ)

اعلیحضرت تیمور شاه د خپل سلطنت او حکومت په دوره کې په کورینو پېښو سر ببره پنځه واره هند لوري ته خپلې لښکرې د پلار د امپراتورۍ د سرحدونو د ساتلو د پاره ولېږلې او په یاغي شویو سیمو باندې یې کلك یرغلونه تر سره کړل دده دا حملې او یرغلونه په ترتیب او وار سره په 1774، 1779، 1780، 1785، او 1788 میلادي کلونو کې پیښ او ترسره شول دی په دې کلونو او وخت کې د سېکهانو ځپلو او اېلولو ته متوجه وو، دا شان تیمورشاه د خپلې پادشاهۍ او حکومت په وخت کې درې واره د غرب په لور ، یو ځل د سند او شمال لورې ته خپلې لښکرې او فوځې بریدونه ترسره کړل(1) ددې د پاره ، چې دا اّهمه موضوع څه روښانه شوې وي ؛ نو په لنډه توگه داسې ورته ځیر کېږو :

د لوی احمدشاه بابا د مرگ نه وروسته څه وخت ، چې سېکهان دتیمورشاه د سلطنت په لومړیو وختو کې دده له کورنیو ستونځو او د هغه د عیش او هوسا ژوند نه خبر شول ، له دې حال او وضعې نه یې دا هیله د ځان سره غوټه کړه ، چې

د تیمورشاه د کورنیو شخړو نه به موړ اوس د فرصت او وخت په غنیمت سره د ځان د آزادۍ په گټه استفاده وکړو؛ نو یې دا وخت د بل هر وخت نه ډېر زیات ښه وگاڼه او ددې موقع نه په استفاده کولو سره یې پر ملتان بریدونه وکړل څه وخت ، چې درانی تیمورشاه د دوی له دې سرغړونې نه خبر شو په پوره او بشپړ ډول یې د کورنې او داخلي اړودوړله مخې ونه شوای کولای ، چې د بېگانه دښمن د دغه حرکت او تیرې مخه ونیسي خو سره له دې یې هم د دوی ټکولو ته ملاوتړله او هغې خوا ته دعسکري کلك فوځ سره ور روان شو د تیمورشاه فوځي پېښې، چې پورته مو ورته اشاره وکړه، دادی ، په لاندې توگه څېړل کیږي :

1- د تېمور شاه لښکرې د ملتان لورته:

د لوی احمد شاه بابا د مړینې نه وروسته سېکان سره وښورېدل ، غوښتل یې ، چې خپل ځان آزاد کړي؛ نو د ملتان

د ښار شاوخوا یې ونیوله څه وخت، چې تیمورشاه ددوی له دې نیت او دده په ضد خوځېدنې نه خبر شو د هغو د مخنیوي د پاره یې په ډېره میړانه او توره ور و دانگل (1

سېکان ، چې د تیمورشاه د کورنیو ستونځو، شخړو او اخته کېدونه خبر وو لا پسې زړور شول ؛ نو په پوره توگه سره راټول او شپېته (60) زره عسکر (1) یې برابر کړل له دې ترتیب او نظم نه وروسته د چناب او راوي دریابونو څخه را

Download from: ketabton.com

واوښتل اراده یې وکړه ، چې ډېره اسماعیل خان ، دیره غازي خان او نورې دیرې یو په بل پسې ونیسي دوی په دې کې لاهو وو او هیله یې درلودله ، چې تر دغو دیرو وروسته به سیند هم ونیسي او په دغه خیال یې خپل نظم برابر وو

تېمورشاه ، چې ددوی له دې اړودوړ نه خبر شو؛ نو په دې لنډ وخت کې یې لومړی د خبرو او اګاهۍ د پاره سردار حاجي علی خان دوی ته د سفیر په توګه ورولېږه، څو ، چې دی سېکان د تېمورشاه له امرونو نه خبر کړي څه وخت ، چې علي خان هلته ور ورسېد؛ نو د سېکانو له خوا سمدلاسه ووژل شو) 2 (

تېمورشاه ، چې د سېکانو له دې شوم نیت او بد عمل او حال نه خبر شو، د حد نه زیاته سخته پرې تمامه شوه سمدستي یې خپل عسکر او منصبداران راوغوښتل او د ملتان لوري ته یې د سېکانو د ځپلو او حملې د پاره د تیارۍ امر ورکړ ده په خپله سرې جامې او کالي ، چې د ونیو تویېولو مثال او نښه وه، واغوستل او سېکانو ته یې د جنګ اعلان وکړ او د ملتان لوري ته په پوره زړورتیا ور روان شو)1 (

کله ، چې تیمورشاه پېښور ته ورسېد؛ نو سمدلاسه یې اتلس (18) زره تورزن او زړور عسکر د زانګي خان (جارجي باشي) تر مشرۍ لاندې دیر غل او حملې د پاره د سېکانو جګړې ته ولېږل او دی په خپله د نور لښکر سره یو ځای ور پسې وروسته ور روان شو

زنګي خان ، چې ددغه ماموریت د سر ته رسېدو د پاره وګومارل شو؛ نو د تیمورشاه له حضور نه په ډېرې خوشالۍ سره رخصت شو، ده په ډېره بېړه د ملتان لور ته حرکت وکړ له څو شپو او ورځو نه وروسته ملتان ته ورسېد او له سیکانو نه یې دوه کروه لرې خپل عسکر د صف او کتار تیارۍ او نورو جنګي تدبیرونو او مقابلې د پاره ودرول تردې نظم او ترتیب وروسته یې امر وکړ ، چې هـڅوك د خپلې خوانه د مخامخ لښکرو په لور ورتللی نشي او هیڅوك هغه لور ته مه پرېږدئ، دا ددې د پاره ، چې غلیم او دښمن زموږ نه بې خبره پاتې شي، د همدې شپې په سهار یې نابېره پر سېکانو برید او یرغل وکړ، جنګ پیل شو، په دې جنګ کې د زنګي خان عسکرو په ډېره مېړانه دښمن ته ملتې ورکړ او سېکان یې ورو ورو تېښتې ته مجبور کړل، پښتانه عسکر پر مخ ولاړل سېکان یې ګړی په ګړۍ یو په بل پسې په شا واخیستل او په شمار یې دېرش زړه تنه له تېغه تېر کړل

تیمورشاه هم په دې وخت کې هلته ور ورسېد او په پوره مېړانه او توریالۍ بڼه ملتان ته ننوت او په ډېره مېړنۍ حمله یې ښار د سېکانو نه ونیو، سېکانو ، چې ځانونه تنګ او وېره کې ولیدل سولې او روغې ته راضي شول ، تیمورشاه د دوی روغه او سوله ومنله کله ، چې سېکان کرار او آرام شول، تیمورشاه شجاع خان سدوزی ددغه ځای حاکم مقرر کړ په په دې وخت کې ، چې تیمورشاه وضعه آرامه ولیدله؛ نو په پوره ډاډ سره بېرته ته پېښور ته ستون شو او په ډېره خوشحالۍ او خوښۍ سره پېښور ته راننوت) 1 (

Download from: ketabton.com

د ملتان د پېښې او د هغې د قرارېدونه وروسته سيندیان هم سره وشورېدل او د تېمورشاه په مقابل کې پورته شول تیمورشاه د سيندیانو د ځپلو او کرارولو له پاره سردار مددخان هغوی ته ورولېږه کله ، چې سردار مددخان سند ته ورسېد په ډېره مېړانه سره يې د سيندیانو اړودوړ او پاڅون کرار کړ، دده برياليتوب دا وو، چې په ډېره زياته بريالۍ بڼه يې د سندیانو مشران او ير غلګر اېل کړل (2)، مددخان د سيند سيمې د شکارپور حاکم ته وسپارلې او خپله بېرته پېښور ته ستون شو او د رسېدو سره سم د پادشاه حضور ته ورغی، تیمورشاه ، چې دلې وضعه بيخي آرامه وليده؛ نو د پور ډاډ او اطمينان نه وروسته د پېښور له سيمې نه کابل ته ولاړ) 3 (

- 2د ملتان لور ته د تیمورشاه دوهم ځل پاملرنه :

تیمورشاه ځرمونی (پسرلی) او وسه (اوړی) په کابل کې تېر کړل، خو په همدې موده کې خبر شو، چې د ملتان ، بهاولپور او د سيند سېکانو او خلکو بيا دده په خلاف اړودوړ پيل کړی او دده د حکومت ړنګېدو ته يې ملاوې تړلې دي ، ددې پېښې او حرکت اصلي محرکين بهاول خان عباسي د بهاولپور والي او رئيس او حافظ الملك دار د پوتره د قام مشر او سرداران وو دوی د سيند او ملتان ډېره مځکه په واك کې لرله دغو ياغيانو د تیمورشاه د باج ورکولو نه ډډه وکړه او د هغه په خلاف يې ، چې زړه غوښتته شخړه جوړه او ځانونه يې خپلواك حکمرانان وګڼل په دې ډول دوی دواړو د پادشاه د حکم او حکومت نه سرونه وغړول) 1 (

تیمورشاه ، چې د دوی د ياغي کېدونه شه خبر شو؛ نو د هغود ځپلو او ماتولو د پاره يې بيا له عسکري منصبدارانو او مشرانو سره وليدل سلا او مشوره يې ورسره وکړه او د پوره تدبير له نيولو نه وروسته له خپلو عسکرو سره ددغه اړودوړ د کرارولو په غرض ملتان ته په ډېره هسکه غاړه ور دننه شو تیمورشاه دغه وار ډېر په قار او غضب و، د افغانيت په مسته نېشه يې ددې پېښې د قرارولو له پاره سردار مددخان د عسکرو او پلتن سره مخکې د جګړې د پاره وليږه او دی هم پسې ترشاه په بېړه ورغی بهاول خان، چې د تیمورشاه د جنګ او مقابلې توان نه درلود سمدلاسه يې تېښتې ته ملا وتړله ، خپل کور او کهول سره د بهاولپور نه د باندې پنځه دېرش کروه لرې له ملتان نه ووت په هغه بې اوبو سولين او شګلين ميدان او ډګر کې ديره شو ، چې هلته يې د ځان د ساتنې د پاره کلا ودانه کړې وه ، په دې توګه سره ده هيله درلودله ، چې د تیمورشاه نه به ځان وساتم او د هغه له يرغل نه به دلې په امن کې پاتې شم او له ځان سره يې وويل : دې بې اوبو شګلين ډاګ ته به دده عسکر په ماپسې رانشي ؛ نو په ډېره بې غمۍ سره په دغه ځای کې په خو شالۍ سره ديره شو

د تیمورشاه د بهاولپور د جګړې او سخت لوټ کولو نه وروسته سردار مددخان اسحق زی ځان ته را وغوښت او هغه ته يې په کلکه د بهاول خان د نيولو او ټکولو وظيفه ورکړه سردار مددخان د شلو زرو عسکرو سره د بهاول خان د نيولو د پاره هغې خواته په ماموريت روان شو او امر يې وکړ ، چې مخکې له مخکې بايد غله ، اوبه او واښه د ځان سره واخلي ، سردار مددخان د ټولو اړتياوو د پوره کېدو نه وروسته د سولين او ريګين ميدان (دښتي، بېديا) په لور

Download from: ketabton.com

روان شو څه وخت ، چې هلته ورنږدې شو؛ نو په ډېره بيړه يې د اوبو د اړتيا د منځه وړلو له پاره لوی او ژور کويان وکيندل، خپل عسکر او څاروي يې په اوبو ماړه کړل تر دې احتياج وروسته يې د بهاول خان د نيولو د پاره په لازمو تدبيرونو لاس پورې کړ

سردار مدد خان د بهاول خان کلا چارچاپېره محاصره اوونيوله په همدې وخت کې يې خپل لوی او درانده توپونه د هغه د کلا ولور ته مخ کړل او امر يې وکړ ، چې په کلا بريد خخ کړئ ، که څه هم په لومړي سرکې د توپونو مړدکيو په کلا باندې څه اثر ونه کړ ، خو په همدې شببه کې بخت د مدد خان سره مرسته وکړه او د توپ يو مردکی د کلا سوري څخه ننوت او د داريو (باروتو) په خره او ربشه کې ولوېد ، د لګېدو او لوېدو سره سم و چاود ددې چاودنې په اثر د کلا دېوالونو کې درزونه پيدا او ځينې دېوالونه يې ولوېدل او هم د دوريو په خره کې د اور لمبې پورته شوې)1(

څه وخت ، چې د کلا دېوالونه راولوېدل او د دوريو د اور غوړانجې پورته شوې؛ نو سردار مدد خان په خورا زياته مېړانه کلاته ورننوت بهاول خان او د هغه زوی يې ونيول او د نيولو سره يې متې پرې وتړلې او تېمورشاه حضور ته يې لاس تړلي راوستل ، څه وخت ، چې تيمورشاه پلار او زوی وليدل ددې ناوړه اقدام په باب يې ، چې دده د پاره يې کړی و خبرې ورسره وکړې ، پلار او زوی دده په مخکې په خپل ناوړه عمل اوکړو باندې اعتراف وکړ او ځانونه يې په ډېرې پښيمانۍ او ملامتيا سره پادشاه ته تسليم کړل تيمورشاه ، چې د نرم زړه څښتن و هغه يې وبخښل او د درناوي په مقابل کې يې د لاهور او بهاولپور حکومت ور وسپاره تيمورشاه د ملتان نه د بېرته را ګرزېدو په وخت کې علي محمد نامی خاګوانی ، چې څه موده پخوا يې د ملتان يوه سيمه نېولې وه او ددې صوبې صوبدار شجاع خان سدوزايي يې په ملتان کې بندي کړی و د ور رسېدو سره سم يې ونيو او بې له درنګه يې مړ کړ (1) ددې سيمې حاکمي او مشري يې بېرته نواب شجاع خان ته وسپارله تر دې وروسته تېمورشاه په بهاول خان باندې د ډاډ او اعتماد کولو نه وروسته په خورا دبدبه او برې سره د کابل په لور راوخوځېد او د ملتان اړودوړ يې په مېړانه سره پای ته ورساوه

- 3د تېمورشاه د حکومت لور ته د بخارا د حکمران شامرراديبك لاس غزونه:

د تېمورشاه د سلطنت په وروستيو کې په 1204 هـ ق کال کې د بخارا حکمران شاه مرادبيك تيمورشاه ته د هغې ستونزې اواخته کېدونه ، چې په ملتان او د سيند په جنګونو او اړودوړ کې ورته پېښه وه او ددغو پېښو د کرارولو د پاره تېمورشاه هغې خواته خپلې شپې او ورځې اوړدې کړې ، نو د تيمورشاه له دې ستونزې اواخته کېدونه د بخارا حکمران استفاده وکړه او دا وخت يې د ځان د پاره د بل هر وخت نه ډېر مناسب وګاڼه او له دې کبله يې د آمو درياب پر جنوبي برخو باندې خپل تېري او بريدونه پيل کړل (1

Download from: ketabton.com

شاه مرادبيك په ډېر آرام زړه پر مخ راغی او د مروې سيمه يې ونيوله ددې ځای نه يې دېرش زره او سېدونکي د بخارا په لور په خورا ظلم او زور سره وکوچول د دوی د لېږد او کوچ پر ځای يې يوه ډله بخارايان د دوی ځايونو ته را وستل او په آبادیو يې په خوښۍ سره بنا وکړه تېمورشاه د ملتان د سفر او راګرزېدو نه وروسته څه وخت ، چې د شاه مرادبيك له تېريو او تجاوز نه خبر شو ، هغه ته يې ډېر نرم او د مهربانۍ نه ډك مكتوب او ليك هغې خواته ورولېږه ، په دې توګه يې هغه وپوهولو ، چې دی بايد د افغانانو او درانيو پر ملكونو د تېري او نيولو نه واوړي او ځان ور څخه په كلكه وساتي كله ، چې

د تېمورشاه مكتوب هغه ته ور ورسېد؛ نو د بخارا حكمران د ده د مكتوب نه سر وغړولو او څه اعتنايي ونه كړه او هغه يې ونه مانه د تيمورشاه د مكتوب په مقابل كې يې دنه ځواب وركړ كله ، چې دراني تيمورشاه د مرادبيك له خوانه منفي ځواب وليد؛ نو په 1204هـ ق كال كې د يو لك (1) فوځ سره د هغه د ټكولو او ماتولو د پاره په ډېر خرښم (قهر) ور روان شو تيمورشاه د باميانو له لياري بلخ ته ننووت او د هغه ځای نه ورپسې اقچې ته وخوځېد په همدې وخت كې د مخامخ له خوا شاه مرادبيك د پنځو سو زرو عسكرو سره د تېمورشاه د مقابلې د پاره راغی په ورځو ورځو د دواړو دښمنو تر منځ خونړي جنګونه پېښ شول او جګړې دوام درلود د جنګ په وخت كې شاه مرادبيك د خپل پلان له مخې ، چې ترتيب كړی يې و عمر خوشبيګي يې د دېرشو زرو عسكرو سره د ناڅاپي يرغل د پاره د تيمورشاه لښكر ته ولېږه په همدی وخت كې يې علي وير دي نامی بل افسر په دې مامور كړی و ، چې دی به د درانيو د آزوغ او خرڅ د لارې شنډولو په خاطر كلك اقدام كوي او د مرګ تر وروستۍ سلګۍ پورې به د درانيو آزوغ په دې لار نه پرېږدي د شاه مرادبيك له دې پلان او جنګي ترتيب نه تيمورشاه خبر و او د شاه مرادبيك له شوم نيت نه ، چې تيمور شاه ته به ماتې وركړي او برى به يې په نصيب شي هم ښه اګاه شوی و؛ نو ده هم د افغانيت او پښتونوالۍ او خاورې د ستاتنې په مسته نيشه خپل جنګي ترتيبات له پخوا نه ښه كلك كړي وو

تېمور شاه ، چې دده د حركت لاره څارله ؛ نو خپلو توپچيانو ته يې د ټاكلي سنګر په مخ كې ځای وركړی وو دوی يې ددې د پاره درولي وو ، چې څه وخت د شاه مرادبيك لښكر را ورسيږي په هغوی به كلك بريد كوي ، چې د برې نيشه يې له سره وباسي او كلكه ماتې وركړي دا كار لكه څنګه ، چې د تيمورشاه هيله وه په ډېره بريالۍ بڼه ترسره شو : كله ، چې د شاه مرادبيك لښكر د تېمورشاه خوا ته راغی او ښه را وړاندې شو؛ نو د رارسېدو سره سم تېمورشاه خپلو توپچيانو ته د ويشتلو امر وكړ ، توريالیو او مېړانيو توپچيانو د تېمورشاه دامر سره سم سخت بريد پيل كړ، د دواړو خواو ترمنځ سخته نښته پيل شوه د دواړو خواوو ترمنځ جنګ ډېر سخت شو ، خو د توريالو افغانانو لښكر جنګ پر مخ بوت او ورو ورو يې اوزبكو ته په بېرته تلو ماتې وركړه او تېښتې ته اړ شول شاه مرادبيك له دې ماتې نه ډېر خواشينی او خپه شو پوه شو ، چې كه جګړې ته دوام وركړي نو به بيخي ورك او خوار شي؛ نو سمدلاسه سولې او روغې ته راضي شو(1) او داسې پريكړه يې له خپل ځان سره وكړه : مرادبيك څو تنه عالمان د بخارا نه را وغوښتل

Download from: ketabton.com

، د ننواتې او عذر کولو په هيله يې د قرآن مجيد په ور،کولو سره د تېمورشاه حضور ته ورولېږل او هم يې دوی ته دا پيغام ورکړی و : " له دې وروسته به داسې کار له مانه ، چې د افغاني پادشاه د خواشينۍ سبب کيږي ونه وينئ)2 "(

تېمورشاه ، چې ډېر نرم زړه خاوند سړی و دده ننواتې يې ومنله او د دواړو هېوادو ترمنځ يې سرحدي پوله او ټك د جيحون سيند وټاکه تيمورشاه تردې بري وروسته د کابل په لور راوخوځېد د راګرزېدو په وخت کې د تيمورشاه ډېر لښکر د سړو او يخ د لاسه په هندوکش کې مړ شو ، خو له دې سره سره تېمورشاه په ډېره دبدبه، بري او شان سره کابل ته په وياړ راغی

Download from: ketabton.com

دریم فصل

دولتي جوړښت (تشکیل)

د تېمورشاه د دورې او حکومت مذهبي ، اقتصادي ، مالي، عسکري (حربی) او اداري جوړښت په زړه پورې موضوع ده ، چې اهمې برخې يې دادي :

اداري جوړښت :

د اداري تشکیل او جوړښت له مخې ، چې هغه وخت يې رواج درلود، پادشاه مطلق حکمران و ، له دې امله ټولې اداري او دوتري څانګې، وزارتونه او ولاياتونه دده تر مستقيم کنترول او حکم لاندې وو پادشاه د خپل صلاحيت له مخې حق درلود ، چې واليان (1) او وزيران مقرر او له وظيفې نه لرې کړي ، د قضا غړي او د لويو رتبو نور مامورين دده په خوښه او اراده د کار ډګر ته راتلل او دده د فکر او رايې له مخې به يې کار پيل کاوه

وکيل الدوله :

د هغې زمانې د اداري جوړښت او رغاونې له مخې وکيل الدوله هغه څوك و، چې د پادشاه په حضور کې يې د نايب السلطنه ، صدر اعظم ، نظامي او ملکي لوی مشاور او مخور په توګه دربار کې وظيفه ترسره کوله وکيل دوله تر هر چا ډېر غښ اعتبار او قدرت درلود دا کس او تن د هغې ورځې رئيس الوزرا (صدراعظم) و او د پادشاه په غياب کې يې د نايب السلطنه په څېر د پادشاهۍ د ټولو کارونو د سرته رسېدو او وارسۍ کولو ماموريت په غاړه درلود وکيل الدوله د هغې زمانې د خورا غټو منصبدارانو او مشرانو له ډلې شمېرل کېده او کولای يې شول ، چې د پادشاه سره د مخالفت په وخت کې د هغه لاس د کار نه لرې او پر ځای يې پادشاه شي د تيمورشاه د سلطنت او پادشاهۍ په وخت کې دده نايب السلطنه او وکيل الدوله سردار عبدالله خان ايوب زی پوپلزی و، سردار عبدالله خان د لوی احمدشاه بابا د امپراتورۍ په وخت کې د ديوان بيګی (د دو ترونو امر) وظيفه په غاړه درلوده (1) دی په دېوان بيګي سره مشهور و هغه د خپلې زمانې پوه عالم او لوی سړی تېر شوی دی د تېمورشاه د زمانې ډېر درانده کارونه دده په مشوره او فکر سرته رسېدل تيمورشاه دېوان بيګي ته په ډېر درانده نظر کتل او په هر کار کې يې له هغه سره مشوره کوله

Download from: ketabton.com

مشیر، مدارالمهام (داخله او عدلیه وزیر) :

د تېمورشاه دوره او سلطنت د اداري جوړښت له مخې په هغه وخت کې د عدل وزارت او کورنیو چارو وزارت له یو او بل نه ګوښي او جلا نه وو ، بلکې د دواړو وزارتونو کارونه سره ګډ او شریك وو دنن ورځې په شان یې ځانته جلا نومونه نه درلودل دا دوه وزارتونه به د پادشاه نه وروسته د وکیل الدوله د خوانه اداره کېدل او د دولت ډېر مهم ارګان ګڼل کېده څرنګه ، چې په هغه وخت کې د حکامو تغیر او مقرري د عمومي هوساینې او نظم د ساتنې دپاره او د قضاو وټاکل په شرعیه محکمو کې د یو بل سره تړلي وو؛ نو ځکه ددغو دوو وزارتونو کارونه د یو او بل سره په هغه دوران کې ګډ او نه بیلېدونکی وو د تېمور شاه حکومت په وخت کې د عدل وزارت د مدار- المهام په نامه سره یادېده ، چې د محکمو د وظیفو څخه سوا د کورنیو وزارت ځینې وظیفې او چارې هم پرې تړلې وې او د ټاکلي وزیر له خوا به تر اجرا لاندې نیول کېدې) 1 (

په هغه دوران کې د عدل وزیردخان علوم او یا د قاضي القضات په نامه سره مشهور و ، د عدل وزیر به خامخا هغه څوك و، چې په شرعیه علومو کې یې تر ټولوی لاس درلود دې سړي به ټولې قضایي چارې او کارونه د محمدي شریعت سره سمې فیصله کولې د اسلام او محمدي دین نه یې خلاف هېڅ کار نه شو کولای، له دې امله د عدل وزارت وظیفه ډېره درنده او پاکه وه چا به ، چې د شریعت څخه مخالف کار وکړ ، هغه ته به د شریعت سره سمه سخته جزا ورکول کېده د تېمورشاه د پادشاهۍ په زمانه کې د مدار المهام درنده وظیفه د قاضي فیض الله خان دولت شاهي په غاړه وه ، دې سړي به د نن ورځې د عدل پر چارو برسیره د کورنیو چارو وزارت کارونه او د دربار مشاوریت هم په غاړه درلود دا سړی په خپل وخت کې تېمورشاه ته ډېر منلی و ، دده نوم په تېرو بحثونو کې ځای په ځای راغلی دی او په ختې پښتون نه و د خاص مهارت په خاطر تېمورشاه ته ډېر ګران و

مستوفي :

که د تېمورشاه د زمانې اداري او دولتي جوړښت ته ځير شو؛ نو له هغه نه په ښکار سره جوتیږي ، چې دده د سلطنت او حکومت په دوران کې مستوفي د اعلی دېوان او د لوی ارکان په حیث خپله دنده تر سره کوله دده کارونه د وزیرانو نه وروسته ډېر درانده او غوره وو دده د پادشاهۍ په وخت کې څو کسانو د مستوفیت وظیفه اجرا کړې ده ، چې د ټولو نه یې مشهور او مخور عبدالطیف خان الجامي د کشمیر اوسېدونکی و) 1 (

د مستوفي غوره کار د مالیې راټولول و دې سړی به هر کال د هېواد له ټولو برخو څخه مالیه د ټاکلواصولو له مخې ، چې د دولت ستر عایدو راغونډولو او وروسته له حساب کولو او اندازې معلومولونه به یې پادشاه پرې خبرولو او د هغه له سترګو نه به یې د ملك مالیه، چې څومره ده ، تېروله مستوفي په هر ځای او ولایت کې ځانګړی دوتر او څانګه درلودله ، چې د بیلوبېلو ولایاتونو مالیه به د موظفو کسانو له خوا د مستوفي د امر د ور رسېدو سره د مربوطې سېمې له خلکو نه را ټولوله او تر راغونډولو وروسته به یې مستوفي ته رسوله مستوفي به بیا د وېش له مخې هر ځای

Download from: ketabton.com

ته خپله د ضرورت ونډه حاکمانو ته ورلېږله ، یا به داسې وه ، چې د هرې سیمې حاکم به د ضرورت وړ پیسې د مستوفیت او مالیې له څانګې اخیستې ، لنډه دا ، چې د مستوفي کارونه ډېر او درانده وو

امین الملك (د زراعت رئیس):

که څه هم دا نوم ددې عنوان سره سر نه خوري او د ملك او هېواد او د ساتنې په معنا دی، خو د هغه وخت دا داري جوړښت او تشکیل له مخې یې د اجراء تو او کارونه بڼه هم دانه وه ، دا عنوان د املاکو د مدیر او د نن ورځې د کرنې له وزیر سره مشابهت لري د تېمورشاه د سلطنت او واکمنۍ په وخت کې دې اداري او دولتي څانګې د دولت د مځکو (خالصه جاتو) محصول ټولولو او د حکومت په چارو به یې لګاوه (1) او یا به یې د دولت خزانې ته سپاره دغه مهمه او درنده اداره د احمدشاه بابا او تیمورشاه په زمانه کې د اعلی دېوان یوه څانګه شمېرل کیده ، چې د دولت محصول به یې را تولولو، دا شان دې څانګې د هېواد په هر ولایت او دولتي سیمه کې دولتي ګدامونه جوړ کړي وو، چې هر ولایت به د ضرورت او اړتیا په وخت کې خپله ونډه ددې راټول شوي محصول نه د دولت په کار کې لګوله د تیمورشاه د واکمنۍ په وخت کې د هغه وخت د امین الملك وظیفه نورمحمدخان بابري ته ورسپارل شوې وه ، دې سړي دا دنده په ډېر ښه شان سره پر مخ بووله او د څه وخت نه وروسته د دوترونو د مهتمم په دندې و ګومارل شو دا، چې دا سړی په خپلو ورسپارل شویو دندو کې ډېر صادق او رښتینی و؛ نو د تېمورشاه د ډېر باور له مخې د مالیې د محکمو د پلټنې دنده هم ورته په برخه شوې وه

ایشك اقاسي (د دربار وزیر):

د تیمورشاه د اداري تشکیل په لړ کې ایشك اقاسي د دربار د وزیر حیثیت درلود ددې سړي کار ډېر درونډ او غوره و ایشك اقاسي به د دربار ټول کارونه پرته د انشاء له دوتر نه ، چې د منشیانو په لاس کې و اجرا کول دا سړی پادشاه ته هم ډېر منلی او نږدې و دا، ځکه پاشاه په هر چا د دربار د وزیر او ددې وزارت د کارونو اعتماد او باور کولای نه شو دې سړي د دربار د وزارت او د دربار د ټولو څانګو د مامورینو نظم او ترتیب په لاس کې و او ده به د دربار د ټولو لګښتونو او خرڅونو حساب په خپله سنجاوه کله به ، چې دده له خوا نه د دربار مصرف وټکال شو؛ نو بیا به د موظفو کسانو له خوا تر سره او پوره کېده د تیمورشاه د سلطنت په زمانه کې دده ایشك اقاسي سردار محمدعلم خان پوپلزی و سردار محمد علم خان د منلي او مخور دېوان بیګي (عبدالله خان) زوی و موړ پورته وویل ، چې تیمورشاه د ځان د ساتنې له پاره په هر چا باندې اعتبار کولا ی نه شو او هم یې د دربار کارونه هر چاته په لاس کې نه ورکول څه وخت، چې دېوان بیګي مړ شو ، تیمورشاه سردار محمد علم خان ته په میراثي ډول دا منصب ورکړ)1(

منشي باشي او خاص دېوان :

Download from: ketabton.com

د تیمورشاه د سلطنت او پادشاهۍ په دوران کې سر منشي د منشي باشي او شاهي دارالتحریر د خاص دېوان په نامه سره يادېده او ډېر درونډ او غوره کار ګڼل کېده) 2 (

د تېمورشاه په وخت کې منشي باشي د ډېر قدرت او صلاحیت څښتن و د دده تر لاس لاندې ځو پخو منشيانو او لیکونکو کار کاوه د پادشاه فرمانونه (ارقام) او نورې غوره پاڼې په ده پورې تړلې وې د تېمورشاه په زمانه کې هر چاد منشي باشي وظیفه تر سره کولای نه شوه ځکه ، چې دا درونډ کار د منشي باشي په لیاقت او استعداد پورې تړلی و چا به ، چې په ډېر قدرت او د خلاقه هنر په زور شاهي فرمانونه لیکل؛ نو د لیك په کار کې د حسن خط (ښکلي خط مراعات یوازېنی ارزښت و) لیکل غوره او په زړه پورې اصل شمېرل کېده چا به ، چې ښکلی خط درلود؛ نو هغه به همدې درانده کار ته ګومارل کېده ، کوم کس به ، چې په دې مهمه دنده او کار کې د ځان نه لیاقت څرګند نه کړ هغه په دې دنده مقررېدلی نه شو په دې توګې سره وینو، چې د ښه خط څښتن د منشي باشي (د ښکلي خط خاوند) میرزا هادي خان و دا سړی د تېمورشاه د پلار لوی احمدشاه بابا له وخت نه په دغه درنده او مهمه دنده باندې مقرر او ګومارل شوی و ده دا غوره او اهمه دنده په ډېره ښه وجه او د ځان نه د لیاقت په ښودلو سره ترسره کوله که سړی دده د لاس خط او فرمانونه وګوري؛ نو به دغه حقیقت په پوره توګه ورته جوت شي د مېرزا هادي له مرګ نه وروسته د منشي باشي د دندې د پاره اعلیحضرت تیمورشاه ابراهیم خان، چې په مشرف خان سره مشهور و، دې کار ته وګوماره) 1 (

صندوق دارچي (د خورځونو رئیس):

د هغه وخت د اداري تشکیل په اساس خزانه ډېره غوره او مهمه اداره وه د تیمورشاه د واکمنۍ او حکومت په وخت کې خزانه د اعلی دېوان تر کتنې او نظر لاندې اداره کېدله د دولت نورې ټولې خزانې دلته د ذخیرې او ډېرۍ په ټوګه ساتل کېدلې، دوی دغه د خزانو ذخیره او زېرمه د مالیې نه بیله او ګوښې کړې وه دا کار ددې د پاره ترسره شوی و، چې د پادشاه د پاره ځانګړې خزانه په نظر کې وه او د صندوق دارچي له خوا يې کتنه کېدله ، له بلې خوانه به د مالیې ډېره برخه د مامورینو ، لښکرو او قومي مشرانو په تنخا او معاش پورې لګېدله ؛ نو ځکه د پادشاه له پاره ځانګړې او ځانته خزانه په تشکیل کې نیول شوې وه

دا ټکی هم د یادونې وړ دی ، چې د خپل هېواد دننه ملیه به د مامورینو ، لښکرو او قومي مشرانو په تنخا پورې مصرف کېدله د تر لاس لاندې ملکونو مالیه او باج به یوازې او یوازې د پادشاه خزانې او ذخېرې ته راټولېدې او هلته به د پادشاه د پاره د صندوق دارچي له خوا خوندي کېدې) 1 (

د تیمورشاه په زمانه کې دده لوی او عمومي خزانه دار او د هغه وخت په اصطلاح صندوق دارچي التفات خان و، دا سړی د لوی احمد شاه بابا په دوران کې دده د خواجه سرای په نامه دنده په غاړه درلوده او احمدشاه بابا ته

Download from: ketabton.com

ډېر منلی او نازولی و تیمورشاه ، چې په ده باندې زیات باور درلود؛ نو دغې چوکۍ ته یې لوړ کړ ، څو ، چې دده مالونه ښه شان سره ورته خوندي وساتي

]عرض بیګي (د عرایضو آمر):[

د اداري تشکیل له مخې عرض بیګي د نن ورځې د عرایضو د مدیر او آمر په څېر او څه له دې لوړه دنده د سرپاور په شان د پادشاه په دربار کې په غاړه درلوله دا سړی به تل په دربار کې حاضر و د عرض بیګي وظیفه په هغه زمانه کې د دربار د وزیر په هدایت اود هغه تر امر لاندې اجرا کېدله تېمورشاه هم د نورو پادشاهانو په شان عرض بیګي درلود او دا اداري څانګه دده په وخت کې پیاوړې او بشپړه وه دده د دربار عرض بیګي محمد اکبرخان و، چې دده په خوښه په دې وظیفه باندې ټاکل شوی و) 1 (

جهرچي باشي (د خپرونو ، تبلیغ او حکومتي چارو آمر):

د جهرچي باشي دنده په خپل وار سره په خپل ځای کې ډېره درنده وه او خورا غوره بڼه یې درلودله داپه دې معنا، چې جهرچي باشي به هره ورځ پادشاهي فرمانونه ، پیغامونه او خبرونه د دربار غړیو او نورو لویو رتبو مامورینو ته رسول جهرچي باشي به د سفر (لېږد) او جنګ په وخت کې د پادشاه امرونه په جهر او لوړ غږ سره خلکو او ولس ته اورول او رسول به یې ددې سړي تر لاس لاندې نورو ډېرو وروجهرچیانو وظیفه په غاړه درلودله، په دغو جهرچیانو د هېواد له هرې سیمې نه خبرونه او احوال راټولول

په هغه وخت او زمانه کې ، چې د مخابرې او آژانس وسایل ډېر کم او یا هېڅ نه وو؛ نو ددې له امله او د هغه زیات ضرورت او اړتیاله مخې، چې د هېواد د لرو سیمو او یا د هېواد نه د باندې خبرونه ډېر ضروري ګڼل کېدل؛ نو، ځکه جهرچیانو ډېر قدر او عزت درلود او د دوی د خبرونو راوړلو ته سخته اړتیا وه کله به ، چې د دوی قدر او عزت چا ونه کړ؛ نو کولای یې شول ، چې په خپلو راټولو شویو خبرونو او احوال سره خلك په غلطه تېر باسي او دروغ ووایي ، که ، چېرې دوی دا کار کړی وای؛ نو طبیعی وه ، چې یو عالم کړاو او تکلیف یې رامنځ ته کاوه ددې مثال په څرګندیدو سره جوته شوه ، چې په هغه دوره او وخت کې جهرچیانو ډېر قدر درلود او هم د ورځې لوی تولنیز ضرورت په دوی پورې تړلی و له نیکه مرغه نن ورځ دا آهم کار د راډیو ، تلیفون ، تیلګراف او بې سیم په واسطه سره اجرا او تر سره کیږي

د تیمورشاه د دورې جهرچي باشي غازي زنکي خان و ، چې د ملتان د سېکانو په جګړه کې یې د تیمورشاه د اتلس زره کسیز لښکري فوځ مشري او واك په غاړه درلود (1) د هغه زړورتوب او مېړانې له امله ، چې ده درلودله د ملتان د تاریخي او درندې جګړې قهرمان وګڼل شو دا سردار د هغه مراد خان ورور دی ، چې د مراد خانۍ د کوڅې نوم (2) د هغه د مېړانې او تورې له مخې ور باندې د یادګار دپاره اېښودل شوی دی هم د خپل ورور په شان توریالی او مېړنی و ، چې د ملتان د جنګ اتل وګڼل شو

Download from: ketabton.com

نساق چي باشي (قوماندان ، کوتوال):

د تېمورشاه د دوران د اداري تشکیل او چوکاټ له بنې نه دا جوتېږي ، چې نساق ، چې باشي کټ مټ د نن ورځې د امنیې او ژاندارمې د قوماندان وظیفه په غاړه درلودله دې سړي او مسوول شخص به په ضروري کارونو او پېښو کې د پادشاه او سلطنت د نورو لوړو او غوره کسانو په خوښه د جزا د ورکولو دنده په خپل واك او لاس کې اخیسته څوك به ، چې مجرم او گناهگار و، دده له خوا به په لازمه او ورته ټاکل شوې جزا باندې محکومېده لکه ، چې د باشي له کلمې نه څرگندېږي دده تر لاس لاندې یوه لویه ډله په ښار ، ښارونو او ولایاتو کې د ساتنې او امنیت د پاره په دې دنده گومارل شوې وه او د گزمې په بنې سره به یې خپله دنده په جدي توگه ترسره کوله دا ټکی هم باید جوت کړو، چې په هر ولایت کې به یوه باشي خپله دنده د هغه وخت د مقرراتو سره سمه د والي په امر پر ځای کوله

د تېمورشاه د دورې او سلطنت د نسق چې باشي دنده د نن ورځې د امنیتي قوماندان او د خلکو د څارندوی د سر مامور سره یو شان وه (1) که چېرې سړی د تېمورشاه د دورې اداري جوړښت مطالعه کړي؛ نو به ورته معلومه شي ، چې نسق، چې باشي دقوماندان او سرمامور وظیفه په غاړه درلودله

هر کاره باشي (د استخباراتو مدیر) :

که د تېمورشاه د سلطنت اداري جوړښت په کره ډول مطالعه کړاي شي؛ نو به دا جوته شي ، چې د هرکاره باشي دنده د ضبط احوالاتو په څیر وه ددې وظیفې څښتن به د سیاسي خبرونو څارل او د ضبط احوال ماموریت په غاړه درلود

د تیمورشاه په زمانه کې دغه وظیفه د لومړي ځل له پاره آقا وقار اجرا کوله ترده وروسته د تېمورشاه له خوا میرهوتك خان پوپلزی په دې درنده دنده باندې مقرر شو (1) دې سړي په خپل وخت کې خپله ورسپارل شوې دنده د تیمورشاه په گټه په ډېر ښه شان او جدیت سره پر مخ بوتله دا سړی د خپلې د ښې اجرا له مخې تېمورشاه ته ډېر گران او منلی و

قافله باشي (د ترانسپورت او حمل و نقل رئیس):

د هغه وخت د اداري رغښت له مخې قافله باشي د لېږدونکو څارویو په سر باندې مقرر و او دې سړي به د څارویو او حیواناتو د خرڅ او خوراك واښه ، اوربشې او دروېشتې سمولې او هم به یې ددې دندې ترڅنگه د مستخدمینو او چوپړو (چپړاسیانو) چارې ترسره کولې د سفر او جنگ په وخت کې به یې د سوارلۍ کلك او غښتلي څاربه (څورب) آسونه برابرول (2)، همدا شان یې د شاهي کورنۍ د تفریح د پاره ښه ښه آسونه ساتل

Download from: ketabton.com

لښکر نویس (لښکر لیکونکی):

د تیمور شاه د وخت د اداري تشکیل په چوکاټ کې د عسکرو ، کامي لښکرو د بللو او ترخیص کولو په غرض یوه ډله لښکر لیکونکي ددغې دندې د ترسره کولو د پاره ګومارل شوي وو ، دوی خپله دنده د اعلی دیوان تر لاس او څارنې لاندې اجرا کوله ددغې ډلې یوازینۍ دنده د لښکرو بللو او شمېرلو لیکل و ، دوی به د خپل کار راپور وروسته له اجراء نه اعلی دیوان ته سپاره ، اعلی دیوان به د دوی کارونه لیدل او تر اصلاح او صحت وروسته به یې د پادشاه له نظر نه تېرول

خواجه سرای باشي:

د اداري رغښت له مخې دې سړي ته د پادشاه د حرام سرای د کور او حرم د چارو نظم او ترتیب ور په غاړه و ، د حرام سرای یوه ډله نور کار کوونکي به هم دده له خوا اداره کېده ، هغوی به دده تر امر لاندې د حرام سرای کارونه او ورسپارلې چارې پرمخ بوولې د تیمورشاه د پلار (لوی احمدشاه بابا) خواجه سرای باشي غازي التفات خان او یاقوت خان وو ،

د تیمورشاه د حرم سرای خواجه باشي هم یا قوت خان و) 1 (

د اعلی دیوان څانګې او دایرې :

- -1خاصه دوتر (دفتر) : دا دوتر د پادشاه د جمع او خرڅ ټاکلی او ځانګړی دوتر وه

- -2خالصه دوتر : دا دوتر د پادشاهي املاکو او آمرینو د محاسبې دوتر و

- -3د مواجبو دوتر : په دې دوتر کې د معاش او تنخوا کارونه ترسره کېدل

- -4د ثبت دوتر : دې دوتر د نن په شان د ټولو سندونو او احکامو د اعتبار په غرض دوه کاپۍ لیکلې، یو کاپي به مستحق تن ته په لاس ورکول کېده او بله کاپي به یې دوتر کې د ثبت د پاره پاتې کېده) 2 (

- -5د حساب دوتر : په دې دوتر کې د نن ورځې په شان د کنترول او محاسبې چارې ترسره کیدې

- -6د اسنادو دوتر : دا دوتر اوس د لیك (پاڼو) او اریشف په نوم یادیږي ، په دې دوتر کې به ټول لیکونه خوندي کېدل

- -7د ثالثاتو دوتر : دا داسې یو دوتر و ، چې حکومتي محصول به یې په دریو، برخو وېشه یوه برخه به یې کرونکي (کروندګر، بزګر، دېکان) ته ورکوله او پاتې نورې دوې برخې یې حکومت ته سپارلې، په دې حساب به بزګر ته د حاصل دریمه برخه ورکول کېده

Download from: ketabton.com

- -8د راهدارۍ دوتر : دا د پاسپورت دوتر و ، چې د تګ راتګ کارونه یې کول

- -9د انشاء دوتر : دې دوتر ته به یې خاص دېوان وایه او د نن ورځې د شاهي دارالتحریر بڼه یې درلودله مهماندار باشي :

د تیمورشاه د وخت په اداري رغښت کې مهماندار باشي هغه څوك و، چې نن ورځ ورته د تشریفاتو آمر وایه شي دا نوم د لوی احمدشاه بابا په وخت کې پخواله 1165 کال څخه منځ ته راغی ، خو دې اداري د تېمورشاه د حکومت او پادشاهۍ په وخت کې څه غوره توب او فوق العادګی نه درلودله ، دغې اداري ته دده په وخت کې څه ضرورت نه لیدل کېده؛ نو یې څه تشکیل هم نه درلود له ده وروسته دا اداره او نوم د دوهم ځل د پاره د شاه زمان په وخت کې د مهماندار باشي په بڼه را ژوندی شو او د دربار په دایرو کې لوړ او اوچت ځای ونیو) 1 (

پېش خانه چي :

دې سړي د اداري جوړښت له مخې د پادشاه د پخلنځي او کار خانې چارې په غاړه درلودلې ، کله به، چې پادشاه د سفر خیال وکړ؛ نو به دې مسؤول سړي د سفر ټول لازم او ضروري سامان لکه دېګونه ، فرش ، ظرف ، د آسونو ضروریات او نور د اړتیا وړ مواد د پادشاه د هوساینې له پاره اخیستل ، د تم کېدو او تګ په وخت کې به یې دا شیان وړل او تم کول) 2 (

چندال باشي :

څنګه ، چې په ځنډنو (پخوانو) وختو کې د څپلیو اغوستلو رواج زیات او ډېرو ، په څوکیو باندې به د میز تر شاه او یا بې له مېزه څوك نه کیناستل او نه یې دومره رواج درلود له دې امله په هغه وخت او زمانه کې کوټې او د ناستې ځایونه په غالیو، ټغرو او لمڅیو فرش شوي وو څه وخت به ، چې د پادشاه لېدو ته مخور او لویان راتلل؛ نو د دوی څپلۍ او پڼې به په یوه کوټرۍ (کفش کن، دهلېز) کې ویستل کېدې او خلك به دپادشاه حضور ته لوڅې پښې ننوتل له دې کبله ددربار لوی آمر حضور دکارونو د نظم په غرض یو تن د چندال باشي په نامه د پڼو او څپلیو د ساتلو د پاره ګومارلی و (1) دده وظیفه یوازې د څپلیو ، کوښواو پڼو ساتل او سمول وو

نظامي او عسکري بڼه :

تېمورشاه دخپل سلطنت په وخت کې عسکري مسلك ته ډېر لږ پام و ده خپلې ټولې حملې او عسکري یرغلونه خپلو لویو جنرالانو ته سپارلي وو ددې په نتیجه کې دده لویو منصبدارانو پاینده خان او مدد خان دده له دې اعتماد او ډاډ نه ښه غوره نوم پیدا کړ لکه ، چې څرګنده ده تېمورشاه په خپله ډېر کم د دښمن سره د جګړې او جنګ په ډګر کې مخامخ شوی دی سره له دې هم څنګه ، چې پادشاه لوی عسکري قوماندان و؛ نو، ځکه تیمورشاه په ځینو جګړو کې په تېره د تالپورا په جنګ کې د محاربې او جګړې د ډګر لوی افسر او مشر و)2 (

Download from: ketabton.com

مونږ دمخه دا ټکی یاد کړی و ، چې تېمورشاه د قام د سردارانو او خانانو د وېرې او ډار له امله د ځان د ساتنې دپاره کافي لښکر د عمل له ډګر نه لرې کړ او د هغه پر ځای یې تنخاخور لښکر جوړ او تیار کړ یوازینی ټولی ، چې دده سره تل ملګری او دده د ساتنې د پاره چمتو و هغه دده ټاکلی او خاص ګارد و، چې ډېر زیات افراد یې پښتانه نه وو او له نورو، وغیره قامونو څخه جوړ و ددې ګارد او ټولي تنخوا خورا ډېره وه او کله کله به زیات بخششونه ورته ورکول کېدل(1) دا وجه وه، چې د تېمورشاه او د هغه د دربار نه د خپل قام او ولس اړیکه پرې شوه ، له بلې خوا همداشان تیمورشاه په ولس باندې بې اعتماده و، له دې کبله هغه قامي لښکر د خپل ځان د ساتلو له پاره ونه ګوماره ده خپل قامي لښکر پر ځای په تنخاخور لښکر ډېر اعتماد درلود دا، ځکه په دې لښکر کې قامي سردارانو لاس نه درلود دا لښکر دده په لاس د ځان د ساتنې د پاره جوړ شوی و د تیمورشاه د دورې عسکري نومونه او جوړښت داسې و :

سپه سالار :

د تېمورشاه په زمانه کې سپه سالار د نن ورځې د حربیې د وزیر (د دفاع وزیر) دنده ترسره او اجرا کوله (2) د لښکرو نظم ، توپخانه، باجه خانه، پوځي بېل بېل ټولګي، د قامي لښکرو ترتیب او نور لښکري او پوځي کارونه په ده پورې تړلي وو

د تېمورشاه د سلطنت په وخت کې دده سپه سالار له 1186ق کال څخه تر 1191 پورې سردار جانخان پوپلزی وه ، دې پوه سپه سالار د احمد شاه بابا په زمانه کې هم همدا وظئفه ترسره کوله دې سپه سالار د ملتان په بهاولپور او نورو جګړو کې تر 1191 کال پورې په خورا میړانه سره ګډون وکړ سره له دې هم دا د پښتنو اتل ددې کال په وروستیو وختو کې دیوه غرض او مخالفت له مخې، چې د مخه ورته اشاره شوې د کندهار په دل آرام کې د فاني نړۍ نه د تل د پاره سترګې پټې کړې

صوبه دار :

د تېمورشاه د سلطنت د دورې په نظامي جوړښت کې د صوبه دار او سپه دار کلمې دواړې رواج وې ، ددې دووکلمو معنا په ښه شان معلومېدای نه شي ، ځکه ، چې د پارسي ژبې په اصطلاح سپه دار او د هندي ژبې په اصطلاح صوبه دار دواړه یوه معنا لري د دندې له مخې یې معنا کوم بېلتون او توپیر نه سره لري د تېمورشاه په زمانه کې صوبه دار د نن ورځې د نایب الحکمه ، والیانو او عسکري قوماندانانو سره څه توپیر نه لرلو دې سړي به د والي په غیاب کې د لویو ښارونو کارونه اجرا او ترسره کول دا شان په هغه زمانه کې صوبه دار د لوی افسر مقام درلود او د حکومت کولو واك او واکې یې اختسی شو د تېمورشاه د حکومت په دوره کې دده مشهور او نامتو صوبه دار آزادخان د حاجي کریم داد خان زوی و، چې په کشمیر کې یې حکومت کاوه) 1 (

د تېمورشاه د پادشاهۍ او سلطنت په وخت کې عسکري نومونه دادي)2 (

Download from: ketabton.com

- -1سپه سالار : د جنگ له وزير څخه لوړ

- -2د لښکر امير : د حرب د وزير په شان

- -3اردو باشي : نايب سالار ، فرقه مشر

- -4قوللر اقاسي : د فرقه مشر سره يو شان

- -5صوبه دار : د ولاياتونو او ښارونو عسکري قوماندان

- -6سپه دار : د هغه وخت سپه دار د نن ورځې غونډ مشر

- -7بېګلر بيګي : د کرنيل په شان

- -8سرتېپ : بلوکمشر ، يا کېپتان

- -9پنجاه باشي

- -10بيست باشي

- -11لس باشي

په پورته نومونو برسېره نور عسکري نومونه هم په هغه وخت کې رواج وو لکه برګېټ ، يوز باشي (صد باشي)، توپچي باشي ، شاهخچي او زنبورك، چي دا ټکی بايد جوت کړو ، چې دا نومونه ويوازې د شاهي منظم فوځ او عسکري لښکر له پاره اېښودل شوي وو

عسکري تنخا (معاش):

د تېمورشاه د حکومت او سلطنت د دورې د عسکرو او منصبدارانو تنخوا او معاش په ښکاره او پوره ډول سره جوت نه دی ، مګر يوازې د شاه زمان د يوه فرمان نه ، چې په 1212 کال کې يې د محمد امير خان قوللر اقاسي په نامه لېږلی و

د تنخوا په باب يې څه درلودل، هغه دا، چې پرته له دسترخوان نه د محمدامير خان تنخوا د زرونه تر دووزرو پورې ليکل شوي وه ، همداشان د سراج التواريخ د مؤلف دښرګندوني له مخې (56 مخ کې) د عسکري، افرادو اوغړيو کالنۍ تنخوا دسلو روپيو نه تر 150 پورې بلل شوې ده

Download from: ketabton.com

د تېمورشاه د سلطنت په دوره کې د جنګ او سفر په وخت کې د عسکرو او منصبدارنو کورنیو د اعاشې او اباتې دپاره افرادو ته د یوه کال تنخوا د پیشکي په توګه ورکول کېده) 1 (

دولتمندو او بډایو عسکرو او منصبدار ته به د هغو تنخوا د سفر او جنګ نه د بېرته راګرځېدو په وخت کې اجرا کېدله ، که جنګ او سفر به نه و؛ نو د دوی تنخوا به د نن په څیر هره میاشت حواله کېده او اخیسته به یې

Download from: ketabton.com

څلورم فصل

د تیمورشاه د دورې مالي بنه

اعلیحضرت تېمورشاه د خپل سلطنت او حکومت په دوره کې مالیې ته پوره پاملرنه او توجه کړې وه ، دده په وخت کې

د اقتصاد اصول او قوانین په ښه لار ا ونظم بنا وو، ده د خپلې پادشاهۍ پر وخت شاهي لګښت او مصروف یو څه راټیټ کړ او د هغې پر ځای یې د پوځونو او لښکرو تنخوا زیاته کړه (1) دده د حکومت په زمانه کې مالیه په ښه شان سره ټولېدله ، د خرڅ او لګښت حساب او کتاب په اصولي لارو او بنه ترسره کېده ددغه ښه ترتیب او نظم په رڼا کې د دولت خورځو نه (خزانه) په لږه موده کې ډکه شوه) 2)

د تېمورشاه د زمانې حکومتي شته او عایدات پرته له هغو لارو او مدرکونونه ، چې د " لعل بها" په نامه د نیول شویو ملکو څخه په لاس راتلل ، نور شته او عاید په لاندې ډول و :

- -1د هغه وخت د حکومت زیات شته او عایدات په عمومي توګه مالیه وه ، دا مالیه به د اجارې په توګه د پادشاه خزانې ته تحویلېدله ، اجاره دارو به (په هندي اصطلاح تومن دارانو) خپل حق په زروکې د مالیې له دیوان او دوتر نه په قناعت سره ترلاسه کاوه ، هر څومره به ، چې و هغه ورته پوره ورکول کېده) 1)

- -2د حکومتي املاکو محصول و ، چې د امین الملك په واسطه به د ښارونو اود کلیو دکروندو څخه او پورې د حکومت ګدامونو ته سپارل کېدو

- -3د باجګیرۍ محصول و ، چې د کوچیانو او تجارانو څخه به لاس ته راوړل کېده نن ورځ د باجګېرۍ یا باج اخستنې محصول د ګمرك په نامه سره یاوېږي

- -4هغه نغد شته او مال و ، چې د کابل او کندهار د ځینو سیمو له خلکو (2) نه را ټولیده ، دا محصول په هغو خلکو باندې دحکومت له خوا اېښودل شوی و، چې دوی د حکومت سره په عسکري چارو کې مرسته نه کوله ددې د پاره، چې حکومت د نورو خلکو په څېر دوی هم د مملکت خدمت ته متوجه کړي وي؛ نو به یې نغدي پیسې ورباندې حواله کولې، دغه ځانګړی او فردي محصول (سرې په سر) د حکومت د کالنیو شتو او عایداتو یوه ښه برخه جوړوله)3)

د دولت لګښت :

Download from: ketabton.com

د تېمورشاه د حکومت او زماني لګښت دادی:

- -1د تېمورشاه په دوران کې د دولت غوره لګښت د حکومت د عسکرو تنخوا او معاش و ، دا تنخواخور لښکر دده په پاملرنه او خوښه سره جوړ او منځ ته راغلی وْ او هغه پخوانی قامي لښکر يې ، چې د پښتنو څخه جوړ وه ده له وېرې نه لرې کړ ، دده په تنخواخور لښکر کې پښتانه ډېر لږ وو ، عسکرو به خپله تنخوا هر يوه د فرمان له مخې د معاش د دوتر نه تر لاسه کوله ، د جنګ او سفر په وخت کې لکه ، چې د مخه په دې باره کې ويل شوي دي د يوه کال تنخوا د پيشکۍ په ډول اخستل کېده

- -2د دولت دوهم لګښت اعزازي تنخوا وه ، چې د قام مشرانو په کال کې په ترتيب او وار سره د شلوزرو نه تر شپږو زرو پورې او يا له دې نه کمه د پادشاه له خزانې نه اخسته ، دا تنخوا هغو ته د حکومت له خوا د خدمت په مقابل کې مقرره وه سر بېره پردې دوی به څه نورې پيسې لږې او ډېرې د دسترخوان په نامه د دولت له خزانې نه تر لاسه کولې

- -3د سفر په وخت کې مصرف او لګښت په دې کې به د څارويو او حيواناتو خوارکي شيان او د لښکرو ډوډۍ شامله وه دغه خرڅ او لګښت که څه هم د لارې په سر له خلکو څخه په زور او يا د کالنۍ ماليې په نوم پوره کېده ، خو سره له دې دا د دولت بودجې ته يو درونـد او ستر تاوان و) 1 (

- -4د تېمورشاه په زمانه کې بل غوره او دورند خرڅ د دربار دسترخوان او د درانيو اميرانو مجلسونه وو ، قبايلو مشرانو پرته له نغدې تنخوا د حکومت له پخلنځي يعنې کار خانې نه ډوډوۍ هم خوړله پادشاه او غټو رئيسانو به د اخترونو او نورو ښو شپو ورځو او وختونو کې قام او ولس ته ډوډۍ هم ورکوله ، دا، ځکه په هغه زمانه کې بې ډوډۍ سړی (خان بې دسترخوان) ته چا د احترام او درنښت په سترګه نه کتل حکومت هم په داسې وختو کې د ځان په ګټه د خانانو او مشرانو د سياست او حثيت د ساتنې په غرض له دوی سره له هيڅ ډول مرستې او بسپنې ډډه نه کوله ، ، چې په ولس کې سر لوړي وي او اعتبار يې لا زيات شي حکومت به په ډېرې خوښۍ سره د خانانو د ضرورت وړ شيان د خلکو د رضا او خوښې په خاطر هغوی ته ورليږل

- -5د لويو لارو د ساتنې په غرض حکومت او دولت دې ته اړو، چې عمومي سړکونو (لويو لارو) ساتنې ته يو قامي غټ مشر وټاکي او دا درونـد کار هغه ته وسپاري ، دې لوی خان او مشر به په خپل قام او خلکو د پوليسو په څېر تاڼه کوله ددغې درندې او لويې وظيفې په مقابل کې به حکومت دې سړي ته په کال کې يو موټی پيسې د دولت له خزانې نه ورکولې

- -6د پادشاه او د هغه دکورنۍ ځاني لګښت، چې د ضرورت په وخت کې به يې د شاهي خزانې نه اخست او په خپله به يې مصرف کاوه

Download from: ketabton.com

- -7د هغو خانانو او مشرانو لګښت ، چې د جنګ او جګړې په وخت کې به يې ولسي افراد (ولسي خلك) د پادشاه له فوځ سره دکومك او مرستې په ډول پادشاه ته په واك کې ورکول، څو ، چې دده په ګټه په هر ځای کې ، چې وغواړي د هغه له فوځ سره اوږه په اوږه د مقابل دښمن د ماتې له پاره وجيګېږي (1) په دې ډول سره ځينې نور لګښتونه هم د دولت په غاړه وو

د ماليې اجاره داري :

د سدوزيو په دوره کې د رعيت د مځکو ماليه په دې ډول سره ټولېدله :

د رعيت او ولس د مځکو يوه برخه به د يو خان او مشر تر اداري لاندې وه د اعلی دېوان يو مامور به د خالصې په نامه د هغې غور کاوه د اعلی د يوان د دوتر دې څانګې به د خانانو د مځکو ماليه د دوی د هغه خدمت په مقابل کې ، چې د حکومت سره به يې په نظامي چارو کې ترسره کاوه، د تنخوا په نوم به يې ور معامله کوله قامي مشرانو به د اعلی دېوان څخه ددېوان بيګي په مهر دبرات ليك تر لاسه کاوه پردې برسېره قامي مشرانو د پادشاه د فرمان له مخې خپله ماليه د اعلی دېوان څخه يستلې وه (1) دا دې معنا ، چې دغو کامي مشرانو (خانانو) به د حکومت خزانې ته ماليه نه ورکوله دا، ځکه ، چې خانانو د پادشاه او حکومت سره د جنګ او جګړې په وخت کې مرسته کوله او هم به يې د خپلې سيمې خلك د پادشاه په پلو ساتل د نور ولس ماليه ، چې د دوی له مځکو او مالونو څخه راټولېدله هغه به د پادشاه خزانې ته د اعلی دېوان له لارې تر سنجش وروسته سپارل کېده

د لرې ملکونو او ښارونو د مځکې د ماليې دريمه به په دې ډول ترسره کېدله ، چې د حکومت له خوا به يو اعتباري سړی د هغې د اجارې دپاره ټاکل کېده ، دې اجاره دار به د مځکې د ماليې د کالني کرښت او زراعت اجاره د ماليې په نوم له کروند ګرو نه اخسته ، ده به وروسته له دې ، چې ماليه را ټوله کړای شوه د يوزرګتې په مقابل کې د اعلی دېوان دوتر ته سپارله د تېمور شاه په دور کې د هند له ښارونو نه کالنۍ ماليه او باج د احمد شاه بابا د وخت په څېر د هند له نيول شويو ښارونو نه د اجارې په بڼه ټوليده ، دا شان د اهل هنو د دکاندارانو نه د باج او جزيې په نوم ماليه را غونډېدله ، دا ماليه به وروسته له جمع کېدونه د پادشاه خزانې ته تحويلېدله تاريخ پوهان او تاريخ ليکونکي په غوره دليل سره وايي ، چې د تېمورشاه د سلطنت په دوره کې اقتصادي بڼه پياوړې او د ډاډ وړ وه دا، ځکه ، چې ده د ضرورت وړ شيان د هند، مشهد او ننۍ افغانستان له پولو او سرحدونو نه پوره کول ، له دې کبله د اقتصاد له مخې دی (تېمورشاه) باندنيو هېوادو ته اړنه و، د ماليې د سمې لارې د لاس ته راوړلو له امله ، چې په هغه وخت کې باب وه د هغه خزانه ښه ډکه وه دا شيان د تيمورشاه د حکومت په وخت کې د هغه د زمانې اقتصادي بڼه وه ، چې د لاندې دريو ضروري شيانو پوره توب او بسنې له مخې د ډاډ وړ ګڼل کيده

-1کرنه (زراعت) او مالداري :

Download from: ketabton.com

د تېمورشاه په زمانه کې د کليوالو لوی او دروند کار د کرنې چارې وې (1) کروندګرو په عمومي ټوګه غنم ، اوربشې او نورې دانې لکه جوار ، ږدن او جودر کرل دارنګه کروندګرو ختکي ، هندوانې ، بادرنګ او ضعتي نباتات کرل ، چې د هغه وخت پر مخ تللې کرنه وه او کليوال پرې بخت وو د کروندګرو د درمند، کولبې او غوبل کولو ځاروي او وسايل د نن ورځې غوايان وو

د تېمورشاه په وخت کې ټولو خلکو په تېره د درانيانو هرې کورنۍ درې او څلور جوړې غوايان درلودل، چې کولبه او يوې به يې پرې کولو دا شان دوی د غوښو ، شيدو وړيو او پوستکيو دپاره غواوې ، وزې ، پسونه او ميږې د نن غونډې روزل او ښه پاملرنه يې ورته کوله د مالونو د درلودلو او ساتلو په لړکې د پسونو رزونه د درانيو غوره وظيفه وه دوی د پسونو ډېرې ښې ښې رمې درلودلې او ښه روزنه به يې کوله دوی د خپل مال د پوولو او څرولو د پاره د وخت او موسم په تغيير سره د يو ځای نه بل ځای ته کوچېدل د دوی په زمانه کې د نن په څېر اوښان او خره د بارونو د وړلو له پاره ډېر پيدا کېدل، په اوښانو باندې يې سر بېره پردې چې لوی او درانده بارونه وړل د خرڅلا و د پاره هم ساتل کېدل ، لکه ، چې جوته ده ويل کيږي ، چې په استحق زيو کې د اسانو او يابوګانو روزنه ښه پرمخ تللې وه (1) مځکه د لويو خانانو په واك کې وه ، چې په بزګرانو به يې کرله او هغو ته به يې د هغه وخت د معمول رواج سره سم برخه ورکوله ، چې څه ګوزاره به يې نه پرې کېدله

2-صنعت (هنر) :

که څه هم د تېمورشاه په وخت کې کورنيو شخړو او عسکري فعاليتونو د صنعت د انکشاف او پرمختګ زمينه له منځه وړې وه ، مګر سره له دې هم نفيسه ضايع او ماولي صنعت تر ډېره حده پورې د ډاډ وړ و نفيسه صنايع : د تېمور شاه په زمانه کې نفيسه صنعت د پادشاه په شخصي مينه او د اميرانو په پاملرنه ښه وړاندې تګ کړی و، مګردا ، چې د هغه وخت تاريخي ماڼۍ او عمرانات له منځه تللی دي؛ نو ځکه په دې برخه کې زموږ معلومات لږ دي(2) لکه څنګه ، چې ښايي هغه شان په دې باره کې لازم مواد په لاس کې نشته ، چې وړاندې يې کړو البته دا جوته ده ، چې په هره تاريخي دروه کې صنايع د هغه وخت په شرايطو پورې اړه لري ، که سرې د احمدشاه بابا او تېمورشاه د دورې لاسي صنايع او صنعتي چارې ووينې دا به ترې جوته شي ، چې دا هنر په هغه زمانه کې ډېر پر مخ تللی و

معمولی هنر: د تېمور شاه د پادشاهۍ دوران کې معمولي هنر او صنعت لکه خطاطي ، نقاشي، مهندسي ، ختګري ، ترکاڼي، حجاري، پښګري او ځينې نور کارونه کېدل په دې هکله د هغو هنرونو لنډه څېړنه کوو، کوم ، چې نن ورځ هم د خلکو سترګو ته درېږي.

خطاطي او نقاشي : د دې هنر او صنعت ښې نمونې او نښې د زيارتونو او ماڼيو پرمخ ، چې په هغه زمانه کې يې ورباندې کار کړی و، لاس ته راځي که ، چېرې د هغه وخت نقاشۍ او خطاطۍ ته وکتل شي دا ترې په ډاګه جوتيږي

Download from: ketabton.com

، چې دا هنرونه په هغه وخت کې ډېر زړه وړونکی او پرمختللي وو هغه خلك ، چې په دې غوره صنعت او هنر باندې لګیا وو د خپلې زمانې او وخت د ټولنیز ژوند لوړ مقام یې نیولی و

مهندسي او ختګري : که د هغه وخت قبرونو ، ګونبزو (ګنبدو) او نورو تاریخي اثارو ته وکتل شي؛ نو له هغې نه دا ښکاري ، چې په هغه زمانه کې د مهندسۍ او ختګرۍ هنر او صنعت ښه وړاندې او مخکې و که ددې هنر پوخوالي ته ښه په غور ولیدل شي دا ترې جوتېږي ، چې د مهندسۍ هیڅ ډول عیب او زیان په هغو کې نه لیدل کیږي ، په دې برخه کې به یوازې او یوازې دا وواېو، چې د هرې زمانې او دورې د ختګرۍ (معمارۍ) سیستم له بلې نه توپیر لري ، چې دا د ختګرو او مهندسینو نقص نه ګڼل کیږي (1) بلکی د خپل وخت او زمانې د خلکو د غوښتنې او پوهې په پرمختیا پورې اړه پیدا کوي او څنګه ، چې زمانه او خلك یې غواړي هغه شان ده پرمخ درومي

حکاکي او زرګري : د تېمورشاه د سلطنت په دوره کې ددغه هنر او صنعت جوتې نښې او نمونې د هغه وخت د سکو ، مسکوکاتو او مهرونو د لیدلو نه په ښه شان سره معلومیږي او سرې ویلی شي ، چې په حقیقت کې د هغې ورځې د حکاکۍ صنعت د نن ورځې له زانګو ګرافۍ سره هیڅ توپیر نه لري

دا ځکه ، چې د یوه مهر کیندل او د مهر په نیمایي قطر باندې د نستعلیق د خط چپه لیکل خورا ګران او سخت کار و ، چې په هغه زمانه کې ترسره کېده که سړی ددې هنر او صنعت ښکلي والي ته ځیر شي؛ نو به وواېي ، چې دا درووند کار په هغه وخت کې په ښه شان سره پرمخ تللی و ددې صنعت او هنر کمال په دې کې و ، چې د مهر د کیندلو سره سره د مهر پرمخ د ټکیو د اړخونو سره د پاڼو او ګلانو رسم او انځور هم ترسره کېده او خورا ښکلي او ښایسته بڼه یې درلودله د تیمورشاه د حکومت په زمانه کې د زرګرۍ صنعت ډېر په زړه پورې کار و زرګرانو هر ډول ښکلي شیان په ډېر ښه شان سره جوړول، له دې پرته د تیمورشاه په دوران کې پښګرۍ، وسله جوړول ، کالي ګنډل ، د دباغۍ او مسګرۍ صنعت د وخت د اړتیاوو د پوره کېدو په غرض منځ ته راغلی وو او ډېر ښه وړاندې تګ یې موندلی و ، که ، چېرې د خپل وخت اړتیاوو ته ځیر شو؛ نو به دا راته معلومه شي ، چې نن ورځ هم د هغو نمونې موږ ته را پاتې دي د تیمورشاه د وخت د مشهورو څو تنو نقاشانو نومونه دادي:

د تیمورشاه د دورې نامتو او غوره نقاش محمدهاشم نومیده دی په اصل کې د لاهور اوسیدونکی و دې پیاوړي او تکړه نقاش سربیره پر خپلو ډېرو ښو ښو نقاشیو او هنرونو ، چې زیات شهرت او نوم یې درلود، د تېمورشاه د ماندینې ګوهرشاد بیګم یو په زړه پورې انځور کښلی و ، چې د ډېر ښایست له مخې د ډېر قدر وړ و

د تیمورشاه په وخت کې نامتو ډېر کیندونکی اقا بابای اصفهاني و ، چې د ډېرو او تیږو کیندنو په کار کې یې لوی لاس درلود، او د خپل لیاقت په اثر یې د استاذۍ لقب ګټلی و ده په هغه زمانه کې د ډېرو لویو او لوړو کسانو د مړتونونو (قبرونو) شناختې (تبۍ) او کتیبې په ښکلي او ښایسته بڼه سره جوړولې له دې دا څرګندېږي ، چې

Download from: ketabton.com

اعليحضرت احمدشاه بابا او تېمورشاه دواړو د نیول شویو ملکونو له هنرمندانو او نامتو کسانو نه ، چې په هنر کې یې لاس درلود د خپل هېواد دپاره په دې کار کې ښه ګټه اخیستې وه) 1 (

-3تجارت :

که د تېمورشاه د دورې د تجارت او سوداګرۍ ته کتنه وشي؛ نو به دا راښکاره شي ، چې تجارت دده په زمانه کې ښه وړاندې تګ کړی وْ وایي، چې خپله پادشاه تجارت ته د خلکو پاملرنه اړولې وه ده د لویو لارو د ساتنې دپاره تانه داران درولي وو ، په دې لارو د قافلو د تلو او راتولو له درکه ډېره ګټه تر لاسه کېده ددې محصول د لاس ته را وړلو نه وروسته به دا پیسې د دولت خزانې ته تحویلیدلې د تېمورشاه په زمانه کې د هیواد ډېر وګړي په راز راز سوداګرۍ او تجارت باندې بوخت وو د تجارت د ودې او راوړو په نتیجه کې خلك آباد او تجارت په زړه پورې وړاندې تګ کړی و د هند او ایران مالونه د افغانستان په لویو ښارونو کې ددې هېواد د مالونو سره معاوضه او بدلېدل دې حال او بڼې د تجارانو کارونه پیاوړي کړي و تجارانو به ښه ګټه کوله او تجارت د ښارونو په دننه او باندې کې ښه پرمختګ کړی و)1(

Download from: ketabton.com

پنځم فصل

ادبي بڼه او علوم

د تېمورشاه د سلطنت او حکومت په دوران کې ادبیاتو او علم ښه وړاندې تګ کړی وْ ، له دې امله دده دوره د افغانستان د ادبیاتو په برخه کې د غوره او ښو ادبي زمانو څخه شمېرل کېږي په دې وخت او دوره کې نه یوازې ادبیات پرمخ ولاړل بلکې نورو علومو هم ښه وړاندې تګ وکړ که د تېمورشاه د دورې د پوهې او علومو په هکله مطالعه شي ؛ نو به دا ور څخه جوته شي ، چې د ده په وخت کې د فقې علم ، تفسیر ، حدیث ، صرف و نحو ، ریاضي ، عروض ، معاني او طب په پوره او بشپړ ډول په مدرسو کې لوستل کېدل البته په دې وخت کې مدرسو فردي بڼه درلودله په دې سر بېره د پادشاه دربار د عالمانو او پوهانو ستر مرکز هم و تېمورشاه په خپله د علم او پوهې سره زیاته مینه درلودله، دده د مینې نتیجه وه ، چې دده په دربار کې ډېر عالمان، پوهان او شاعران روزل کېدل عالمانو او پوهانو دهغې زمانې مروج علوم او فنون په استاذانه ډول سره خلکو ته ابلاغول اوپه خپلو علومو کې یې د استاذانو لقبونه ګټلي وو

تېمورشاه په خپله شاعر او ادیب و دده دغه مقام دومره اوچت دی ، چې وروسته ده ددې ادبي مقام په درلودلو سره د افغانستان په لویو ادیبانو کې ځای ونیو ددې ادعا د اثبات دپاره دده د غزلو ، قطعو ، څلوریځو، قصیدو (بوللو) او نورو شعرونو دېوان په پښتو او دري ژبه تر اوسه په یاد را پاتې دي د تېمورشاه د حکومت په زمانه کې کوم شي ته ، چې د علم په باره کې ده توجه نه وه کړې هغه د پښتو ژبې نه پالل او نه روزل وو ، که سړی دده د دربار د عالمانو په هکله مطالعه وکړي دابه ورته معلومه شي ، چې دده دربار د فارسي شاعرانو او عالمانو نه ډك و دا کومه پټه خبره نه ده دده د وخت د عالمانو له کتابونو نه په ډاګه سره ښکاري، چې سر بیره پر دري ژبو شاعرانو پښتو ژبو عالمانو هم په دري ژبه شعرونه ویلي دي له دې معلومږي ، چې دده په وخت کې د دري ژبې د ادب او د هغې د پاللو بازار ښه تود و اعلیحضرت تېمورشاه د خپل پلار په شان یو ادیب پادشاه و په دري ژبه د شعر دیوان لري ، چې په 1119هـ (د پادشاهۍ) په دیارلسم کال یې له نظمه فارغ شوی دی تیمورشاه په خپله مورنۍ ژبه پښتو ښه خوندور اشعار ویلي دی، مګر متاسفانه ، چې موږ ته ډېر لږ رارسېدلي او نور ورك دي د تېمورشاه پښتو شعرونه عشقي او بزمي رنګ لري

په پښتو شعر کې یې د فارسی شعر په څیر ژبه روانه او بې تکلفه ده د سبك له مخې د خپل پلار شاګرد دی او په معنا کې یوازې د بزم او عشق سندرې وایې د پلار په څېر د وطن مینه ، جنګ او اجتماعي ژوند په باب څه نه وایي دده د ادبي مقام

Download from: ketabton.com

د یادونې له پاره دده پښتو او دري غزلې دنمونې په ډول راوړو:

هی هی د یار صورت لکه گلونه

چې وهلي يې پرمخ دي شنه خالونه

تېر شو عمر د وصال په انتظار کې

اوس په زړه مې د هجران لگي اورونه

په رخسار باندې يې زلفې تار په تار دي

د عاشقو آوېزان په هر تار زړونه

د پتنگ په دود ديار په غمو وسوم

د باڼو ناوکي ايژدي په زړه زخمونه

توکل دي پر خپل خدای کړه تيمورشاهه

څه په کار دي د فاني دنيا کارونه) 1(

* * *

نن مې بيا له تورو سترگو سره جنگ دی

پر لبانو يې د زړه د ونيو رنگ دی

که پرې کړی سر په لاس ورلره راشم

لا په دايې باور نشي زړه يې سنگ دی

ستا د حسن لښکر راغی ځان يې بايلو

د عاشق و زړه ميدان هر گوره تنگ دی

عشق د مشك پټول نشي تيمورشاهه

چې په خپله ځان رسوا کا هغه رنگ دی

* * *

Download from: ketabton.com

دا هم دري غزل:

ای همدمان زآتش آهم حذر کنید

دلدار راز حال دلم خبر کنید

ای مردمان زحسرت من یاد آورید

چون بر جمال سر مثالش نظر کنید

وئید حال زار مرا پیش یار من

ر یردش ملال سخن مختصر کیند

دانید بردل مسکین چه رفته است

ر سینه تیغ جفا یش سپر کنید

یا از سفر ستمر مارا کنید منع

یا از من ستم زده قطع نظر کنید

دانید حال دیده شب زنده دار من

ر در فراق یار شبي را سهر کنید

یاران ز زلف یار بیادم نیاورید

دیوانه را مبادا که دیوانه تر کنید

تیمورشاه شته زعشق یار جر خون

فکري بحال عاشق خونین جر کنید)1(

* * *

دده د دورې ځیني شاعران او لیکوال دادي:

عبدالله خان وکیل الدوله : دا پوه او عالم سړی د احمدشاه بابا د وخت نه تر تېمورشاه پورې د هېواد لوی او غټ شخصیت و او د حکومت په چارو کې یې ستر لاس درلود دی د هغه وخت د ډېرو پخو او ښو شاعرانو او لیکوالو په ډله کې شمېرل کېده عبدالله خان د پوره دیوان ښتن دی شعرونه یې (د الف) له ردیف نه تر (ی) پورې دي او

Download from: ketabton.com

ټول درې سوه (300) غزلو ته رسېږي چې په دري او پښتو يې ويلی دي دده په شعر کې حمد و نعت ، مرثيه ، بوالله ، د خلکو کیسې او تاريخې قطعې لېدل کېږي

عبدالله خان وکيل الدوله د څو تاليفونو خاوند هم دی ده يو کتاب د فقې د علم په هکله او بل يې د احمد شاهي فتاوې په نامه په 688 مخونو کې، ليکي دي د وروستی کتاب سريزه د پښتو په اتيا بيتونو پيل شوې ده دده بل اثر احمد شاهی شهر (کندهار) په نامه دی ، چې په فارسي ژبه کښل شوی دی دده د احمد شاهي فتاوې د شعر نمونه دا ده:

ددې وخت پادشاه سني دی

په مذهب کې حنفي دی

محبت يې د کتاب دی

بې عددو بې حساب دی

دی په خپله مصنف دی

په دې کار کې ډېر منصف دی

هم عالم دی هم شاعر دی

په نکتو کې ډېر ماهر دی

چې دده ديوان هيرادی

په تحقيق سره هيرادی

حرص يې ډېر ددين په کار دی

ذوق يې ډېر ددې روزګار دی

دا يې و فرمايل ماته

چې يو امر کوم تاته

ماوې وايه اې پادشاهه

زما شاهه دين پناهه

Download from: ketabton.com

وې يې ډېر مين په دين يم

د افغان په کار غمگين يم

دا کتاب ورته پښتو کړه

په تا حکم کوم وکړه!

ماوې هر څه ستا مامول دي

په ليمو زما قبول دی

مسمی په عبدالله يم

دعا گوی د خپل پادشاه يم

همداسې يې د پښتو د شعر څه گوښې بيتونه دا دي(1)

عبدالله د هيڅ منصب هوادار نه دی

دراستۍ د ښه کلام يم په اخلاص

* * *

خونه که مې وسوه ديوانه مې پاخه شوه

مشهور عبدالله خان وم اوس رسوا په عاشقۍ شوم

* * *

محمد علم خان : محمد علم خان د عبدالله خان مشر زوی و ، دی د پلار د مرگ نه وروسته د وکيل الدوله په خوکۍ کېناست دا ډېر هوښيار سړی و ټولو سدوزيو سردارانو هغه ته د پوهې او هوښيارۍ له مخې د احترام او درنښت په سترگه کتل دده شخصيت هر چاته منلی و ده د خلکو سره ډېره مينه او ښه گوزاره درلوده

وکيل الدوله محمد علم خان د پلار په څېر په پښتو او دري ژبو په ښه شان سره شعر ويلی شو د پښتو شعر زياتی نمونې يې نشته او يوازې څو نمونې يې معلومې دي دا يو څو بيته يې د يو خطي جونگ نه رانقلوو:

Download from: ketabton.com

ستا نوم شو محمد(ص)

ته نازولی د صمد

په قل هو په احد

عالم تېر کړه محمد(ص)

په نامه دي ډېر شیدا یم

ج

په دروغ نه په رښتیا یم

کلمه پر ژبه وایم

عالم تیر کړه محمد(ص)

میرزا لعل محمد خان عاجز : لعل محمد خان د تېمورشاه طبیب و سر بیره پر طبابت هغه شعر هم وایه او ښه لیکوال ګڼل کېده او په دري ژبه دېوان لري

الله یار خان راسخ : الله یارخان د میر هوتك خان سکنی کشر ورور دی د دري ژبې ښه شاعر ګڼل کیږي ، دېوان يې نه دی موندل شوی یوازې یو عشقي شعر د میر هوتك د لمسیو په واسطه پیدا شوی دی دا څو بیتونه یې د نمونې په ډول لیکو:

شب فراق نهان با خیال خود فتم

بروبه بستر خوابش که غافل افتاده

بباغ عشق تو شاهانهال امیدم

ز خشك سالی هجران ز حاصل افتاده

شنیده ام که تمنای کشتنم داري

Download from: ketabton.com

عجب عجب كه ترا رحم بر دل افتاده

نميرسد به زمين پاى آرزوى دلم

ز بس به كوى تو دل بر دل افتاده

سر دو ديده ابرويش ديد "راسخ" فت

دو ماه نو چه بيك رو مقابل افتاده

مير هوتك خان پوپلزى :

مير هوتك خان د زمان خان زوى او د تيمورشاه د دورې د لويو شاعرانو څخه گڼل کېږي دی د تېمورشاه د دربار د شاعرانو استاذ دی ده د هغی دورې تاريخ په شعر سره رڼا کړی دی دده هغه دري شعر، چې د تېمورشاه په باب يې ويلي دي وگورئ :

نظام ملك اسالم جهات شمع يقين

نهال باغ شريعت چراغ ملت و دين

ز فيض لشن مدحش بهشت فرصت دل

ز وصف شكر نامش لب و زبان شرين

به هر كجا كه بخواهم بقاى دولت تو

كنند اهل سماوات يك قلم آمين

غلام محمد شاه جي :

دا خوږ ژبی شاعر ، چې په پښتو کوم شعر نه لري د تېمورشاه د وخت نه د شاه شجاع تر سلطنت پورې ژوندی و او په خورا خوارۍ يې د کابل په سيمه کې د ژوند تر وروستۍ سلگۍ پورې ژوند کاوه وايې ، چې ده ښه خوږ شعر درلود

دا شان د اعليحضرت تېمورشاه په دربار او زمانه کې مير محمد اولا "ذكا" عيدمحمد عيدى او ميرزا على عسكر خان وصفى تکړه شاعران او ليکوال تېرشوي دي ، د شاعرانو د شعرونو نه جوتيږي ، چې د تېمور په دربار کې راټول شوی شاعرانو په دري شعرونه ويل

Download from: ketabton.com

مذهبي بڼه :

د افغانستان وګړي ، چې ډېر يې د اسلام د مبارك دين پيروان دي (1) سره له دې يې هم په دوو مذهبي فرقو باندې وېشلی شو : لومړۍ فرقه سني مذهبه ده ، چې ددې هېواد اکثريت نفوس يې جوړ کړی دی ، دوهمه فرقه اهل تشيع ده ، چې په کم اقليت سره دلته ژوند کوي مسلمانان د اسلام مبارك دين د خپرولو دپاره دا ښه بولي، چې د نړۍ په هر ګوټ کې دا سپېڅلی او پاك دين خپور کړي ، په دې لار کې که له شدت نه کار واخستل شي ثواب يې ګڼي) 2 (

د دغو ټکيو پر بنا د افغانستان لويو فاتحينو او جګړنو تر تېمورشاه او له هغه نه وروسته د اسلام د دين د خپرولو او په دې نوم ددې مذهب د پيروانو د پيدا کولو په غرض تر هند پورې خپل يرغلونه پر مخ بيولي دي دوی د خپلو يرغلونو په لړکې د نيول شويو ملکو خلکو ته ددې دين ګټې او ښګڼې په زور او سلا څرګندې کړې دي کله به ، چې د نيول شويو سيمو خلکو او وګړو د اسلام د مبين دين منلو ته غاړه نه اېښودله؛ نو به هرومرو د دوی څخه باج غوښتل کېده ډېرو وګړو د اسلام د دين د منلو په صورت کې د باج ورکول په ځان منلي و)1 (

که چېرې به د نيول شويو ملکونو خلکو پر ځان دا دوه شيان يا د اسلام د دين منل او يا باج ورکولو نه يو شی پر ځان نه منل؛ نو به د دوی وژل او تباه کول ضروري وو الفنستن په خپل کتاب کې د يوه هندي مؤرخ په قول وايي، چې د پاني پت په جنګ کې کله ، چې به مسلمانانو پر اهل هنودو بری وموند اوکومه ډله به، چې دمال سره ددوی لاس ته ورغلله؛ نو سمدلاسه به يې د اسلام د دين منلو ته راوبلل) 2 (

دا حال او بڼه د تېمورشاه په دوره او وخت کې د پوره پاملرنې وړ وه نن دا بڼه د اهل هنودو په باب د مسلمانانو سره نشته لکه ، چې وينو نن ورځ يو زيات شمېر هندوان په افغانستان کې ژوند کوي او د مسلمانانو له خوا هغوی ته ډېر حقوق په برخه او اجتماعی متقابل احترام يې پر ځای کيږي ددين او مذهب په لار کې هغوی ته پوره آزادي ورکړل شوې ده نن د مذهبي تعصب په نامه د هندوانو او مسلمانانو تر منځ هېڅ خنډ او اړه نه ليدل کيږي د افغانستان وګړي د اسلام د دين پيروان دي او د هغه او امر او ارکان په خوښۍ سره لمانځي په دې هيواد کې ملايان د ټولنيزو طبقو په لړکې ډېره زوره وره او د قدرت خاونده ډله ده، چې د هېواد د سياست او مذهب په لار کې يې ښه اثر کړی او قدرت يې ډېر زيات دی)1 (

دوی په خپل منځ کې په څو ګروپونو وېشل کېږي ، د کلي له ملا څخه نيولې تر هرې درجې پورې ، چې وي يو له بله سره اړيکې لري د تېمورشاه په وخت کې د دوی دغه اړيکې ډېرې زياتې او ټينګې وې

د تېمورشاه شاخصيت :

Download from: ketabton.com

تېمورشاه په طبيعي توګه يو سوله غوښتونکی او د جنګ نه ويزار انسان و (2) دا وجه وه ، چې د حکومت د ښه انتظام سره سره د هغه نه د سلطنت او خاورې د سرحدونو او صوبو

د آزادۍ کوښښونه شروع شول د تېمورشاه په پوهه کې څه شك نشته، خو سره له دې ده شراب څښل (1) او د ولس د خوی او عادت په خلاف يې عيش خوښولو

فرېر وايي ، چې د تېمورشاه حکومت په افغانستان کې په عدل او انصاف مشهور دی، مګر له دې سره دی د پښتنو د ژوند په خلاف د نورو د فکر او معاشرت خوښووکی و

نور موْرخين وايي، چې تيمورشاه د پښتني کلچر په پرېښودو سره دومره افراط وکړ، چې ده او دده درباريانو پښتو ژبه هم هېره کړه او پر ځای يې فارسي ژبه او کلچر د کابل په دربار کې لوړ ځای ته ورسوله دا وجه وه ، چې د تيمورشاه له دورې څخه د پښتو ژبې زوال پيل شو (2) په دې وخت کې د دوتر ژبه فارسي وه له دې عيبونو پرته تيمورشاه ډېر پوه او لايق پادشاه و

Download from: ketabton.com

شپږم فصل

عمومي نظر او نتیجه

د تېمورشاه ددورې په پای کې غواړو ، چې څوټکي د تبصرې په ډول جوت کړو البته دا څوټکي زموږ د شخصي نظر په ډول وړاندې کيږي د نظر خاوندانو څخه هيله کيږي، چې د نيمګړتيا او عدم صحت په حالت کې به هر ډول انتقاد وکړي د اعليحضرت تېمورشاه سلطنت د افغانستان په تاريخ کې يو غوره فصل ګڼل کېږي، چې مطالعه او څېړنه يې هرومرود تاريخ کتونکي او مطالعه کوونکي په فکر زيات اثرات اچولای شي ، تردې څېړنې د مخه د تېمورشاه د سلطنت په باب له موږ سره يوازې ډېر محدود معلومات په ذهن کې موجود و ، خو کله مې، چې دده د دورې حقايق وسپړل د هغو شيانو عکس مې وليد کوم، چې فکر کيدو د تېمورشاه عصر د افغانستان د اتلسمې پېړۍ يوه ځلانده او مدنی دوره شمېرل شوی ده ، چې د مدنيت تاثيرات يې تر اوسه په ثابت ډول زموږ د ټولنې پر ټولنيز ، اداري او نورو ساحو کې ليدلی شو د تيمورشاه د نرم خوی او ښه سلوك په وسيله د هغه دوران ادبي وضع زموږ د مدعا د اثبات په خاطر کافي ده دا ځکه، چې د هر عصر د آرامۍ او صلحې په نتيجه کې علوم او ادبيات انکشاف او پرمختګ مومي او خلکو ته د ادبي روزنې زمينه خامخا برابرېږي برعکس که چېرې خونړۍ شخړې او د پرېشانۍ وختونه د تاريخ په پاڼو کې وګورو نو به په ډاګه راته ښکاره شي، چې په داسې وختو کې فکري او ذهنې روزنه او وړاندې تګ يې د يوی ساري بېمارۍ بڼه غوره کړې ده

ځينو تاريخ پوهانو او مؤلفينو، چې يادونه يې ددې لنډې ليکنې په زياتو ځايو کې راغلې ده د تيمورشاه په هکله يې سختې تبصرې کړې دي، چې هغه د ډېر تامل او احتياط وړ دي ځينو دی يو ايرانی مشر به او شراب خور معرفي کړی، چې په دې هکله يې کوم ماخذ هم نه دی ښوولی په هر صورت که هر څومره تيمورشاه يو آرام او حليم سړی و ، ددې وضعې سره سم يې داسې کرکټر هم درلود، چې د هغې په وجه ده وکولای شول د ټول افغانستان د اتباعو ترمنځ د پردېتوب او بيګانګۍ خنډ ورك کړي او د دې پر ځای د يووالی، همنوعۍ او بشريت فکرونه په کې پيدا کړي د دغې مدعا ښه مثال موږ دا ګنو : ، چې ده ددولت چارې د هېواد بېلو بېلو اتباعوته پرته د قبيلوي، اجتماعي او يا ژبنيو تبعيضونو څخه نورو ته هم ور وسپارلې، ده د هېواد سوکالي ، د وطن د آبادی، وړاندې تګ او د مملکت د چارو د حل و فصل کار يو مشترك مسؤوليت وګاڼه ددې فکر په واسطه سره تېمورشاه د خپلو اساسي تشکيلاتو بنسټ په ښه توګه کېښود او د قبايلو زياتې مداخلې يې د دولت په چارو کې و تر ډېره حده لرې کړې دده په وخت کې د سلطنت ټينګوالی او استحکام تامين و، که څه هم ځينو مؤلفينو لکه قاضي عطاوله خان او نورو دده سلطنت متزلزل ګڼلی زموږ په نظر مدلل نه دی دا ځکه ، چې دده په وخت کې ددولت مرکزيت په يقيني ډول تامين او ټينګ و هغه بې اتفاقۍ او د يووالي نشتوالی، چې وروسته له ده په هېواد کې دده د زامنو تر منځ را پيدا شوې ځانته علت

Download from: ketabton.com

لري هغه دا، چې که د تاریخ پاڼې په ډېر دقیق ډول له پخوا څخه تر اوسه ولیدل شي، وینو ، چې زیاتې کورنۍ شخړې د پادشاهانو زیاتو زامنو او اخلافو تر منځ پیښې شوې دي دا کار خامخا د ملت په بربادۍ تمامېده اود دولت بېړۍ یې د خطرناك ساحل و خواته بیوله

د افغانستان ډېرو شاهانو علاقه درلوده ، چې ډېرې ښځې وکړي البته د دغو زیاتو ښځو څخه زیات اولادونه پیدا او پاتې کېدل ، ضرور به د دوی ترمنځ د دولت په چارو باندې اختلاف سره راته او یو له بله یې د تخت کېناستو په کرسۍ باندې سره ټکول لکه، چې د تېمورشاه د 23 زامنو ترمنځ ددې هیواد په غرورغو کې ډېرې وینې تویې شوې دي د تیمورشاه

د مړینې نه وروسته حالات ډېر ژر بدل شول د سدوزیو د سلطنت ولې او ربښې چنجیو وخوړې او په ډېره کمه موده کې ددې سلطنت ونه و چه او دایبرې (حاصل) نه د مخه د خزان باد یې پاڼې ورېژولې تېمورشاه پوه وه ، چې دده اولاد د خپل پلار اطاعت نه مني او هم د بېلو بېلو اقلیمونو د میندو زامن دي؛ نو د سلطنت د ختمېدو گومان یې د زامنو تر منځ په یقین سره گڼلی و

د تېمورشاه اولاده او نومونه یې:

1شهزاده همایون 18 میران میرزا

2محمود 19 حسین میرزا

3حاجي فیروزالدین 20 هاشم

4عباس 21 شاه تور

5شهزاده کندل 22 نورده

6زمان 23 ملك گوهر

7شجاع الملك 24 اکبر

8احمد 25 حسن

Download from: ketabton.com

9محمد سلطان 26 بلنداختر

10یزدان بخش 27 شاه رخ

11کشور 28 شاه پور

12سلطان علی 29 شهزاده ابراهیم

13نادر میرزا 30 مزخ

14اشرف 31 خاور

15مظفر 32 ایوب

16جهان والا 33 جلال)1(

17مراد

یادونه:

د تیمورشاه د زامنو شمېر دري دېرش (33) و او

د لورگانو شمېر يې له دیارلسو (13) څخه زيات وو

د دي ليکنې د ماخذونو پېژندنه :

له کومو ماخذونو څخه ، چې په دغه رساله کې استفاده شوې ده د مطلب په بيان کې يو له بله سره توپير لري ، هر ماخذ مؤلف د خپل وس په توان د افغانستان د تاريخي پيړی

د پېښو په لړ کې خپله ليکنه غوره بللې ده له دې سره سره د دوی تر منځ دموادو اقتباس او يو شان والی ډېر ځله ليدلی شو

سره له دې هم داسې اړيکې شته، چې هغه له يو بل څخه بيلولای شي مونږ دلته د کتاب د چاپ ځای ، کال د پېښو او مطلب لنډه څېړنه څرگند ول غواړو

الف : فارسي ماخذونه :

- -1سلطاني تاريخ

Download from: ketabton.com

دا کتاب د سلطان محمد خان دراني پواسطه ليکل شوی او د افغانستان د تاريخ په تيره د درانيانو په باب يې ډېر خوندور معلومات په خوږه قلمی ژبه ټول کړي دي ، دا کتاب

د بمبي دمعموره بندر په محمدي نومي چاپخانه کې په کال 1298 طبع شوی دی ددې تاريخی کتاب متن ، چې سړی ګوري داسې غوره مطالب لر ي، چې لوستل يې سړي ته خوند ورکوي

دا کتاب په دوه سوه يونوي مخونو کې ليکل شوی دی او ليکوال زيات زحمت پری ګاللی دی د سلطاني تاريخ غوره او درانده مطالب د يوې سريزې په ګډون دادي :

د افغانستان وضع د اسلام د منځ ته راتلو سره ،

د افغانانو نسب، د لوديانو بيان، سوريان (شيرشاه سوري)،

د سورد افغانانو د حکومت پای په هند کې ، د ابداليانو بيان

د غلزيو شرح او پای، نادرشاه افشار، احمدشاه بابا ، تيمورشاه، شاه محمود، شاه زمان، شاشجاع الملك او شاهزاده کامران ، ختم

دغه اثر، چې په پخوانۍ انشاء ليکل شوی دی عبارات يې ډېر په عربی دي او د هغوی معنی کول ضروري کار دی ، سره له دې هم ددې کتاب د بيان لار ډېره خوږه ده او کټ مټ

د يوه داستان ښه غوره کوي ، تشبيهات او ادبي رنګ په کې ډېر دی ، د متن په منځ کې يې په موضوع پورې تړلي شعرونه راوړي دي

ددې کتاب يو زيان دادی، چې پراګرافونه يې په يو بل کې ګډ دي او په موضوع باندې سړی ښه نه پوهېږي ، سر بيره پردې دغه قيمتی اثر د ډېرې استفادې وړ او د درانيو د سلطنت ياد يې په لومړي ټوك کې په ښه شان سره راوړی دی، داسې معلوميږي، چې له دې وروسته مؤرخينو د خپلو تصنيفونو په ليکلو کې ور څخه ډېر مطالب اخيستی او اقتباس کړي دي

- -2سراج التوارخ:

دا کتاب د سراج الاخبار ليکوني ملا فيض محمد هزاره ليکلی او د کابل د دارالسلطنه په حروفي مطبعه کې په کال 1331ق طبع شوی

ددغه کتاب چاپ شوي ټوکونه دريو ته رسېږي او تر ډېرې پلټنې او تحقيق نه وروسته مې بيا موند د کتاب اصل په پنځو ټوکونو کې ليکل شوی ، چې د هغو له لړ نه دريم لومړي ټوکونه يې چاپ او دوه نور يې ، چې قلمی دي د پوهنې وزارت په کتابخانه کې قيد (خوندی) دي

Download from: ketabton.com

د سراج التواريخ د پاتی دوو ټوکونو نه چاپېدل يو تاريخي کيفيت لري، چې لاندې په لنډ ډول اشاره ورته کول غواړم

ملا فيض محمد خان څه وخت ، چې د سقاو (حبيب الله خان) له خوا د هزاره جات سيمې ته د هزاره ګانو د پلوي کېدو په غرض ولړه ، دغه وخت و، چې ملا فيض محمد د خپلې وظيفې په خلاف د هزاره جات د سيمې اوسيدونکي هزاره يې د غازي امان الله خان په پلوۍ او خوا را پاڅول دده له دې نيك حركت نه كله ، چې حبيب الله خان (سقاو) خبر شو، هغه يې ونيوو او ددې جرم په خاطر يې هغه وواژه او دده تصنيفونه يې وسوزول

له دې امله د سراج التواريخ ټولې کاپۍ په کابل کې له لسو او پنځلسو نه زياتيی نه پيدا کيږي ، نو ځکه دا کتاب ډېر لږ او نادر بلل کيږي

ددې کتاب دريم ټوك بيخی نه پيدا کيږي ، كه پيدا شي قيمت يې لوړ او تر 1500 پورې رسيږي ، حال دا، چې د لومړي او دوهم ټوك بيه يې تر 300 پورې ده

د کابل پوهنتون کتابتون په دې وروستيو وختو کې په دې برياله شو، چې د دغه قيمتي کتاب دريم ټوك پيدا كړی فكر كوم ، چې ددې کتاب (اكسيشن) کتلاك او نورې مرحلی تر اوسه پورې د علاقه لرونكو د مطالعې له پاره اجرا شوې نه دي

ددغه کتاب د لومړي او دوهم ټوك غوره بيان د سدوزيو پېښې او د محمدزيو تاريخ تر امير عبدالرحمن خان پورې ګڼل کيږي، چې په 377 مخونو کې په لويه قطع او صحافت ليكل شوی دی

د سراج التواريخ د لومړی ټوك ډېر ځايونه د سلطاني تاريخ او ځينو نورو پخوانيو تاريخونو څخه اخيستل شوي

سره له دې هم ددې کتاب مطالب ، چې د نورو ژبو څخه

د افغانستان په باب ليكل شوی دي ، خورا غوره او نوي ګڼل کيږي

ددې کتاب دريم ټوك د امير عبدالرحمن خان سلطنت ، څلورم ټوك د امير حبيب الله خان دوره او پنځم يې د غازی امان الله خان پېښی څيړي، خو دا دوه وروستي ټوكونه يې تراوسه چاپ شوي نه دي

-3درانی تيمورشاه:

دا کتاب د عزيزالدين پوپلزي تاليف دی د تاريخ ټولنې د270 لمبر په لړ کې د کابل په عامه مطبعه کې چاپ شوی ،

د چاپ كال يې 1333 دی

Download from: ketabton.com

دا کتاب په دویمه درجه کاغذ کې په یوه منځنۍ قطع او صحافت لیکل شوی او د تیمورشاه دوران په 254 مخونو کې خپرې او ددې دورې په باب یې ژوره څېړنه کړې ده ددې کتاب ماخذونه سراج التواریخ ، سلطاني تاریخ د پښتنو تاریخ ، منشي احمد جان تاریخ او ځینې ځانګړې اسناد دي

دا کتاب زما له دې نوې ټولونې سره دا عمومي توپیرونه لري :

دا، چې زما ټولونه په پښتو لیکل شوې ده ، ددې ټولونې او درانی تیمورشاه کتاب ترمنځ مطالب له یو بل سره لرِه اړه لري ددې ټولونې توپیر ددې کتاب سره د بیان او مقاسیې په وخت ښه ښکاره کیږي ، چې لوستونکې په دواړو لرِ درنګ وکړي

ددې کتاب غوره اهمیت دادی ، چې د هغې زمانې ډېر مکتوبونه یې د متن سره د سند په توګه درج کړي دی

او لوستونکي د هغې زمانې فرمانونو او لیکنو ته اړ کولی شي

- 4عروج بارکزایي ها :

دا کتاب ادوارد الاسنیس پیرس خارجي لیکی او ښاغلو عبدالرحمن پژواك او محمد عثمان صدقی ژباړلی دی

دا کتاب په کال 1333 هجري شمسي د کابل په عمومي مطبعه کې په 180 مخونو کې چاپ شوی دی (دا کتاب د تاریخ ټولنې له خوا طبع شوی) د تېمورشاه د زامنو اړودوړ او د احمدزیو د دورې سر او ابتدا یې په ډېر منظم او خواږه شان څیړلې ده

ددې کتاب غوره ښیګڼه داده، چې د هر مخ په پای کې یې، دېری تبصرې او پایلیکونه (فوټ نوټو) نه ورکړي دي او سر بیره پردې یې ګڼ شمېر ماخذونه ښودلي دي

زما ددې ټولونې په برخه کې ددې کتاب نه اخستنه او مرسته لره ده، خو تاریخ لوستونکو ته خورا د ګټې وړ دی دا کتاب ددې له پاره ډېر اهمیت لري ، چې یوه تن خارجی په ډېر زیار سره د هغه لیکنې ته اقدام کړی او په ډېره بې طرفۍ یې د ماخذونو دښودلو سره سره دافغانستان ددغو مشکلو او جنجالمنو تیارو پېښو یې په تاریخي بڼه رڼا اچولې ده

- 5رجال ورویداد های تاریخي:

Download from: ketabton.com

دا کتاب د ښاغلي احمد علی خان کهزاد تالیف او د تاریخ ټولنې له خوا نشر شوی دی ، دا کتاب ، چې د 46 مقالو ټولونه ده په 146 مخونوکې په منځنی قطع او ښه صحافت خپور شوی دی

لکه ، چې د نوم نه يې ځرګندېږي ددې کتاب مطالب د افغانستان د غوره تاريخي شخصيتونو په هکله د احمدشاه بابا نه تر امير شيرعلی خان پورې ده، چې په کې شامل او راغلي دي لوستونکي کولای شي، چې ددغو مقالو په لوستلو سره د افغانستان د اتلسمې او نولسمې پېړۍ دمهمو پېښو نه په ښه شان خبر شي ځوك، چې تاريخ لولی د هغو له پاره ګټور دی

– 6احمدشاه :

دا کتاب، چې داّريانا دويمې جايزې ګټونکی دی، ښاغلي غلام محمد غبار ليکلی دی او په کال 1322هـ ش کې په 352 مخونو کې د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی

ددې کتاب غوره موضوع ګانی دادي :

د احمد شاه لقب نامه ، د احمد شاه درانی وجه تسميه ، تحصيلات ، صورت ، خوراك او څښاك، تفريح (سيل)، دربار، په تخت کيناستل ، افغانستان پخواله احمد شاه، اداري څېرکی، تشکيلات ، پای او جنګونه په کې راغلی دي

- 7بالاحصار و پيش آمدهای تاريخي:

دا کتاب د ښاغلي احمدعلي خان کهزاد تالیف او په دوو ټوکو کې ليکل شوی دی دا کتاب په خوږه ژبه او پخه انشاء تاليف شوی او د افغانستان د تاريخي اثارو په لړ کې يو ښه او غوره اثر ګڼل کيږي

- 8د ژوندون مجلی کلکسيون 1348 کال ، ځخه يو څه استفاده هم شوې ده

Download from: ketabton.com

پښتو ماخذونه:

د پښتنو تاریخ:

دا کتاب د ښاغلي قاضي عطاوالله خان دی د پښتنو په باب مطالب لري او په څلورو ټوکونو کې لیکل شوی دی ،

د لومړی ځل چاپ یې د پېښور په منظور عامه مطبعه کې په کال 1947ع کې تر سره شوې ددې کتاب لومړی ټوک، چې 308 مخونو کې دی د افغانستان تاریخ له 1422- 1838 پورې څېړي

دوهم ټوك يې له 1818 نه تر1842 ميلادی پورې د سدوزيو د سلطنت پای تر امير دوست محمد خان پورې څرګندوي

د پښتنو تاریخ د سدوزیو د دورې په هکله پوره لیکل شوی او مطالب یې ډېر بنه دي ددې کتاب غوره صفت دادی ، چې پراګرافونه یې په ښه شان مراعات شوي دی او ځای ځای یې د پوره کره کتنې له پاره د انګریزي مؤلفینو نظر یې کټ مټ په انګریزۍ د کتاب متن ته وردننه کړې دي دا کتاب خورا درونډ د ښو معلومات نه ډك دی

- 2پښتانه د تاریخ په رڼا کې:

دا کتاب د سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل تالیف او 1399 مخونو کې په پنډ ټوک چاپ شوی دی ، دا اثر د پښتنو پېښې له 550 قبل الملاد څخه تر 1964ع پورې په لنډه توګه بیانوي

دا کتاب په پېښور کې چاپ شوی او د مطلب بیان په لنډ ډول سره کوي دا، چې د څو پیړیو د پېښو بیان په یوه کتاب کې راغلی دی؛ نو ځکه یې لنډ څېړلي دي

انګریزی ماخذونه): 1(

- 1د کابل د سلطنت او د هغو د توابعو شرح:

دا کتاب د انګریزي مشهور تاریخ لیکونکي الفنستن تالیف دی ، چې په دو ټوکونو کې یې لیکلی دی

دا کتاب د افغانستان د معاصر تاریخ په تیره د اتلسمی او نولسمی پېړۍ په هلکه له غوره کتابو څخه شمېرل کیږي ددی کتاب ارزښت د کورنیو تالیفونه ډېر دی، خو تراوسه نه دی ژباړل شوی

ددی کتاب په لومړی ټوك کې د یوې سریزې په لرلو سره د افغانستان جغرافیایي وضع، اجتماعی ، مذهبی او تاریخې خواوی څېړل شوي دي او د پښتنو د دو دونو او کړنو په هکله ګټور معلومات وړاندې کوي

Download from: ketabton.com

دوهم ټوك كې د درانيو غلزيو د دغو دورو د تشكيلاتو په هكله ډېر معلومات ليكلي شوي دي او په پاى كې يې د سدوزيو د سلطنت شرح شوې ده

دا كتاب ډېر لږ پيدا كيږي ، ددې كتاب يوه كاپي د كابل پوهنتون په كتابتون كې شته ددې كتاب د ليكلو لار ډېره په زړه پورې ده او هر لوستونكى په يقيني ډول ځانته راكاږي

- 2افغانستان :

ددې كتاب مؤلف آرنولد فليچر دى او د متحده اضلاعو د كارنلر ديونيورستۍ له خپرونو څخه دى

ددې كتاب موضوعات دادي:

مځكه او وګړي، پخوانى افغانستان له 1842- 1880 پورې ، عبدالرحمن خان د امپرياليزم اوج ، د نړۍ د دوو جګړو ترمنځ د افغانستان حال ، له 1945 نه تر 1953 پورې ، افغانستان او سوړ جنګ ، نوى او راتلونكى افغانستان

ددې كتاب غوره خصوصيت دادى، چې هر څېركى يې په يوه افغاني متل پيل شوى دى

پاى

Download from: ketabton.com